# دماشوم اسلامي روزنه

دهر مسلمان لپاره خصوصاً دشاګردانو
او محصلینو لپاره مفید او
ګټور کتاب چې پکښې بنسټیز اسلامي
او ګټور معلومات ځای پر ځای سوي

تالیف: الحاج مفتي عبدالصمد مسرور

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# دماشوم اسلامی روزنه

تالیف :مفتی عبدالصمدمسرور

نوم .....................................

مدرسه /مکتب......................................

درجه /صنف........................................

شمیره............................................

ناشر المکتبة العمریه

جامعه دارالسکون محمودآباد چمن

تدریس القرآن راډیوسپین بولدک

# داستاذ/سرپرست(دکوردمشر) لپاره

داکتاب باید په ماشومانو یادسي پدې ډول چې شپږبرخي دي هربرخه دی دماشوم داستعداد مطابق پربرخوویشل سی بیا په مدرسه یادکلی په مسجدکی یاپه مکتب کی د سبقانو د ورځنۍ رخصتۍ څخه نیم ساعت مخکی هره ورځ یو هوښیارشاګرد چی حروف به یې استاذ/معلم ور برابرکړی وی په زوره دی وائی داستاد په حضورکی نور شاګردان دی په لوړ آوازورسره وائی ټوله اونۍ بیاد اونۍ په آخرکی دچهارشنبې په ورځه استاذ ځینی وپوښتی که یې یادوود هغو دی بل ګروف جوړکړی په بل هوښیارشاګرد دی بله برخه ورشروع کړی، اوکه یې یاد نوو هغه دی بیاټوله اونۍ هغه زاړه وائی پرهم داغه ترتیب که وویل سی ان شاءالله د یوه درسی کال په موده کی به یې ټول مواد یادوی چی داستاذ لپاره به لویه دآخرت سرمایه جوړه سی(یاماښام مهال په کوردکورمشرهم داسی کولائی سی)

ستاسو وروروعبدالصمد مسرور

## فهرست محتویات

داستاذ/سرپرست(دکوردمشر)لپاره ........ 3

**اوله برخه** ........ 7

ایمان مجمل ........ 8

ایمان مفصل ........ 8

شپږکلمی ........ 8

لمونځ ........ 10

لس سورته ........ 13

**دماشوم اسلامی روزنه** ........ 16

**دویمه برخه** ........ 16

داستنجاءبیان : ........ 17

داوداسه طریقه ........ 18

دلمانځه طریقه ........ 20

ورځنۍ سنت دعاګاني ........ 29

اسلامی پوښتنې ........ 31

**دماشوم اسلامی روزنه** ........ 36

**دریمه برخه** ........ 36

د اودس فرضونه ........ 37

د غسل فرضونه ........ 37

د غسل سنتونه........................................................ 38

د غسل قسمونه........................................................ 39

دلمانځه فرضونه ........................................................ 39

لومړی دلمانځه شرطونه :........................................................ 40

دلمانځه ارکان :........................................................ 41

اسماء الحسنی ........................................................ 43

ورځنی سنت دعاګاني ........................................................ 50

اسلامی پوښتنی ........................................................ 52

**دماشوم اسلامی روزنه**........................................................ 55

**څلورمه برخه**........................................................ 55

اودس ماتونکی ځیزونه(داوداسه نواقض)........................................................ 56

دلمانځه مفسدات........................................................ 56

دلمانځه مکروهات :........................................................ 59

دجنازی د لمونځ طریقه :........................................................ 61

د اختر د لمانځه طریقه:........................................................ 62

داختر اړونداړین مسائل ........................................................ 64

سنت دعاګانی........................................................ 66

اسلامی پوښتني ........................................................ 73

د ماشوم اسلامي روژنه ........................................ 76
**پنځمه برخه** ........................................ 76
د لمانځه ژباړه ........................................ 77
د استخارې د لمونځ اسانه طریقه : ........................................ 82
څلویښت حدیثونه ........................................ 84
**شپږمه برخه** ........................................ 94
د توبې لمونځ ........................................ 95
د کسوف (د لمر ترنځې نیولو) لمونځ ........................................ 95
د خسوف (سپوږمۍ ترنځه و نیسي) لمونځ ........................................ 96
د استسقاء لمونځ ........................................ 96
د تراویح (د روژې د میاشتې قیام) لمونځ ........................................ 97
د حاجت لمونځ ........................................ 97
د اشراق لمونځ ........................................ 98
د څاښت لمونځ ........................................ 99
د اوابین لمونځ ........................................ 100
تهجد لمونځ ........................................ 100
د صلاة تسبیح فضیلت او طریقه ........................................ 102

## دماشوم اسلامي روزنه

# اوله برخه

تاليف :مفتی عبدالصمدمسرور

## ايمان مجمل

اٰمَنٰتُ بِاللهِ كما هُوَ بِاَسمَآئِہِ وَصِفَاتِہِ وَ قَبِلتُ جَمِیعَ اَحکَامِہِ

## ايمان مفصل

اٰمَنتُ بِاللهِ وَ مَلٰئِکَتِہِ وَ کُتُبِہِ وَ رَسُلِہِ وَ لیَومِ الاٰخِرِ وَ القَدِر خَیرِہِ وَ شَرِّہِ مِنَ اللهِ تَعَالٰی وَالبَعثِ بَعدَالمَوتِ

# شپږ کلمې

### اولــه : کلـمـهٔ طـیبـه

لااِلــهَ اِلااللهُ مـُحَمّـَدٌ رَّسـُولُ اللهِ

(له خدای تعالی څخه پرته بل دعبادت وړ (معبود) نشته محمد ﷺ دالله رسو ل دی)

### دوهــمه : د شــهادت کلــمـه

اَشـهـَدُ اَنَ لا الــهَ الا اللهُ وَحـدَہُ لاشَـرِیکَ لَـہُ وَاَشـهـَدُ اَنَ مُـحَـمَّداًعَـبدُہ وَرَسـُولُـہ

ژباړه : زه شاهدی ورکوم چې دالله څخه پرته بل څوک دعبادت وړ نسته هغه یو دی سیال نلری، اوداشاهدی ورکوم چې دئی محمدﷺ یی بنده او رسول دی

## دریــمــه : د تـمجـید کلــمــه

سُبحَانَ اللهِ وَالـحَمدُللهِ وَلا اِلَهَ اِلااللّهُ وَاللّهُ اَکبَر وَلاحَولَ وَلا قُوَّةَ اِلا بِاللهِ العَلِیّ العَظِیم

ژباړه : خدای پاک دی ستاینې هغه لره دی له خدایه پرته دعبادت وړ بل ذات نسته ، خدای لوی دی له ګناوو دساتنې اود نیکو کارونو دکولو توفیق یواځې هغه ورکوی هغه دلویی او شوکت څښتن دی

## څــلـورمـه : دتـوحید کلـمـه

لااِلَهَ اِلااللّهُ وَحدَهُ لاشَرِیکَ لَهُ، لَهُ المُلکُ وَلَهُ الـحَمدُ یُحیِی وَیُمِیتُ وهو حیٌّ لا یَمُوتُ اَبداً اَبداً ذُوالجَلالِ وَالاکرَامِ بِیَدِهِ الـخَیر وَهُوَ عَلَی کُلِّ شَیءٍ قَدِیر

له خدایه پرته دعبادت وړ بل ذات نسته ، سیال نه لری پاچاهی اوستاینې هغه لره دی، ژوندی کول اومړه کول یې په واک کې دی ، تل ترتله به ژوندی وی، دعزت اوشوکت څښتن دی او ښېګڼه یې په واک کې ده ، په هرڅه قادر دی

## پنـځـمـه کلـمـه : د استـغـفا ر کلـمـه

اَستَغفِرُاللّهَ رَبِّی مِن کُلِّ ذَنبٍ اَذنَبتُهُ عَمَداً اَوخَطاً سِرّاً اَوعَلانِیَةً وَاَتُوبُ اَلَیهِ مِنَ الذَّنبِ الذِی اَعلَمُ وَمِنَّ الذَّنبِ الذِّی لا اعَلَمُ اِنَّکَ اَنتَ عَلّامُ الغُیُوبِ وَسَتَّارُ العُیُوبِ وغَفَّارُ الذُّنوُبِ وَلاحَولَ وَلاقُوَّةَ اِلا بِاللهِ العَلّیِ العَظِیم

ژباړه : زه له هغه ذاته ښښنه غواړم چې زما خدای دی، له هرې هغې ګنا څخه چې په قصداویا مې په هېره سره کړې وی ، دهغه په دربارکې له هرې ګناڅخه چې ماته معلومه وی اویا نه وی توبه باسم

په تحقیق سره خدایه ! په پټو رازونو خبر یې ! دعیبونو پټوونکی، دګناوو ښنونکی یې ! له ګناڅخه دساتنې اوښوکارونودکولو توفیق یواځې ته ورکوې! په تحقیق سره دلویې اوشوکت څښتن یې!

## شپــږمــه :(ردکفر) لــه کفـره دبــې زارۍ کلـمـه

اَللـّٰهُمَّ اِنِّی اَعُـوذُبِکَ مِنَ اَن اُشرِکَ بِکَ شَیاً وَاَنَا اَعلَمُ بِهِ وَاَستَغـفِرُکَ لِما لا اَعلَمُ بِهِ تُبـتُ عَنـهُ وَتـَبراتُ مِنَ الکُفرِ وَالـشِرکِ وَالـکَذِبِ وَالغِـیبَةِ وَالبِـدعَـةِ وَالنَمِـیمَةِ وَ الفَـواحِشِ وَالبُهـتَانِ وَالـمعاصِی کُلِّهَا وَاَسلَمتُ وَاَقُـولُ لا اِلَهَ الاالله مُـحَمَّـدٌ رَّسُولُ اللهِ

خدایه ! زه پرتا پنا غواړم له دې څخه چې له تاسره بل څه سیال وګنم اوزه پرې پوهیږی اوله هغه شرک څخه چې پرې نه پوهیږم خدایه تاته توبه باسم له هر کفر، شرک، درواغو، غیبت ، بدعت، چغل خوری، سپکوسپورو، تور لګولو اوټولو ګناوو څخه، اوماایمان راوړی اووایم چې : له خدای تعالی څخه پرته بل دعبادت وړ (معبود) نسته محمدﷺدالله رسو ل دی

## لمونځ

### ثناء

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَآ إِلٰهَ غَيْرُكَ

### تعوذ

أَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ،

بسمله

بِسْمِ اللهِ الرَّحمنِ الرَّحِيمِ

سورة الفاتحه

الْحَـمْدُ للهِ رَبّ الْعَالَمِينَ ١ الرَّحْمـنِ الرَّحِيمِ ٢ مَـلِكِ يَوْمِ الدِّينِ٣

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ٤ اهدِنَــا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ ٥ صِرَاطَ

الَّذِينَ أَنعَمتَ عَلَيهِـمْ غَيرِ المَغضُوبِ عَلَيهِمْ وَلاَ الضَّــالِّينَ ٦

سورة الاخلاص

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ١ اللَّهُ الصَّمَدُ ٢ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ٣ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ ٤

الله اكبر

سُبْحَانَ رَبِيَّ الْعَظِيْمِ

سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه

رَبنَا وَلَكَ الحمد

الله اكبر

سُبْحَانَ رَبِيَّ الاَعلى

الله اكبر

الله اکبر

سبحان ربي الأعلی

الله اکبر

تشہد

اَلتَّحَيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَواتُ وَالطَّيِّباتُ، اَلسَّــلاَمُ عَلَيْكَ أيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُه

اَلسَّلاَمُ عَلَيْنَا وَعَلى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ، أشْهَدُ أنْ لاَ إلهَ إلاَ اللهُ وَأشْهَدُ أنْ مُحَمَّدًا عَبْدُه وَرَسُوْلُه

درودشریف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلى مُحَمَّدٍ وَعَلى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلى إبْرَاهِيْمَ وَعَلى آل إبْرَاهِيمَ، إنَكَ حمِيْدٌ مَجِيْدٌ

اَللّٰهُمَ بَارِكْ عَلى مُحَمَّدٍ وَعَلى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلى إبرَاهِيمَ وَعَلى آلِ إبرَاهِيمَ، إنَكَ حمِيْدٌ مَّجِيْدٌ

دعا

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اتِنَا فِى الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّ فِى الاخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّار

اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ الله

# لس سورته

سورة الفيل

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ (1) أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ (2) وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ (3) تَرْمِيهِمْ بِحِجَارَةٍ مِنْ سِجِّيلٍ (4) فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَأْكُولٍ (5)

سورة قريش

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ (1) إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ (2) فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ (3) الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ (4)

سورة الماعون

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ (1) فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ (2) وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ (3) فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ (4) الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ (5) الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ (6) وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ (7)

سورة الكوثر

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ (1) فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ (2) إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ (3)

سورة الكافرون

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ (1) لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ (2) وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (3) وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُمْ (4) وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (5) لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ (6)

سورة النصر

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ (1) وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا (2) فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا (3)

سورة المسد

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ (1) مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ (2) سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ (3) وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ (4) فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ (5)

سورة الإخلاص

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (1) اللَّهُ الصَّمَدُ (2) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (3) وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ (4)

سورة الفلق

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ (1) مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ (2) وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ (3) وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ (4) وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ (5)

سورة الناس

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيم

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ (1) مَلِكِ النَّاسِ (2) إِلَهِ النَّاسِ (3) مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ
الْخَنَّاسِ (4) الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ (5) مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ (6)

# دماشوم اسلامی روزنه

# دویمه برخه

تالیف :مفتی عبدالصمدمسرور

یادونه : ترهرڅه مخکی تیره حصه په تکرارکړئ دوی دری هفتی

## : داستنجاء بیان

دلویو او وړو متیازو (بولو) څخه ورسته دبدن پاکولو ته استنجا وايي

په اسلامي شریعت کې په استنجا کولو ډیر زیات ټینګار سوی دی ځکه
چه داستنجا په بې پروایې کې سخته ګناه ده او رسول الله صلی الله علیه
وسلم هغه دعذابِ قبر سبب بللې دی

له قضای حاجت ورسته لومړی باید دضرورت په اندازه په لوټو (یا ډبرو یا
تشناب کاغذ) په ګین (چپ) لاس خپل ځان ښه پاکول او بیا اوبو
باندې پاکي حاصلول سنت دی

دخالې متیازو (بولو) څخه ورسته ترهغی په لوټو باندی (یا په بله طریقه
چې دده عادت وی) استنجا کول پکار دی چه دلندوالی شبهه پاتې نسي
او دوچوالی پوره اطمینان حاصل سي

که قضایی حاجت ته نه وي تللې په خالې باد یا خوب سره استنجا کول
ضروری نه دي ځکه چې استنجا دنجاست لري کولو لپاره وي

## داوداسه طریقه

رسول الله صلی الله علیه وسلم یواځی داودس کولو دطریقې تعلیم نه دی ورکړئ بلکې عملاً یې داودس طریقه ښودلې چې په لاندې ډول ده:

اول داودس لپاره په زړه کې نیت کول

بیا به بسم الله الرحمن الرحیم ووایی

دوارہ لاسونه تر مړوندو پورې درې ځله پریمنځل

بیا درې ځله په خوله اوبه تیرول او که مسواک وي ډیر ښه ځکه چې د مسواک په باره کې په احادیثو کې زیات ترغیب راغلی دی او همدارنګه د حلق غرغره کول

بیا درې ځله په ښی لاس سره په پزه اوبه تیرول او په چپ لاس سره دهغه پاکول

بیا درې ځله مخ مینځل دیو غوږ له نرمۍ څخه دبل غوږ تر نرمۍ پورې او دتندی له ویښتانو څخه تر زنې پورې که ږیره ګڼه وی نو هغه به په ګوتو خلال کړی تر څو د ویښتانو بیخو ته اوبه ورسیږی او که ږنګۍ (کوشنۍ) وی نو خپله اوبه ور رسیږی.

بیا دواړه لاسونه سره له څنګلو دری ځله مینځل لومړی ښی لاس ورپسی چپ لاس مینځل ،که په ګوتو کې ګوتمی، وی دهغی ښورول پکار دی تر څو اوبه ورسی بیا به د دواړو لاسو ګوتې یو په بل کې واچوی خلال یې دې کړی

بیا یو ځل د ټول سر مسح کول داسې چه غټه ګوته او د شهادت ګوته جلا کړی پاتې نورې د دواړو لاسونو دری دری ګوتې سره ولګوی دګوتو دننی حصی دې دتندی له ویښتانو د څټ لوری ته ترآخره کش کړی بیا دې د دواړو لاسونو ورغوی د څټ له لورې دمخی په لور راوګرځوی چی ټول سر مسح سی

بیا به دواړو غوږونه مسحه کړی داسې چی د شهادت ګوتی په غوږونو کې داخلی او غټې ګوتو به دغوږونو بیرونی حصه مسح کړی

بیا به دګوتو پر شا دغاړی مسح وکړی . بیا دواړه پښی د ښنګرو (بجلکو) سره دری ځله پریمنځل لومړی ښی، پښه ورسته چپه پښه مینځل او د دواړو پښو دګوتو خلالول د لاس په کچی، ګوته سره

ورسته‌دا دُعا ویل :اَشْهَدُ اَن لاَّاِلهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَحده لاَ شَرِیْکَ لَه وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداعَبدُه وَرَسُوْلُه اَللهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ الْتَّوَّابِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِین

## دلمانځه طریقه

دلمانځه شروع کولو څخه مخکې لمونځ کوونکي ته پکار دي چې څنګه دی دخپل بدن او جامو پاکي اوصافي کوي دارنګه زړه هم ددنیا یي کارونو او خیالاتو څخه پاک کړي ځکه چې دئی اوس دخپل رب په حضور کی دریږي

لومړی نیت به وکړي په زړه کې اوکه په ژبه ووائی نو بهتره به وي ځکه په ژبه سره نیت کول د زړه د حضور سره مدد کوي، الله‌اکبر به ووایي دواړه لاسونه به دغوږونو تر نرمیو پورې پورته کړي ، ښځی به خپل لاسونه تر اوږو پوری پورته کړي،ورسته به لاسونه تر نامه لاندې ونیسي پداسې شان سره چه دښی لاس غټې ګوتې او کوچنۍ ګوتې سره د چپ لاس مړوند ونیسي او دښی لاس مینځنۍ دری ګوتې دچپ لاس په لیخي (مړوند) باندی خپری کښیږیدي او ښځه به دښی لاس تلی د چپ لاس په شا نیولی په سینه باندی ونیسي

## : ثنا سبحانک اللهم به ووایی

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالى جَدُّكَ وَلَآ إِلٰهَ غَيْرُكَ

ورسته به اعوذ باالله اوبسم الله ووایی

أعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، بِسْمِ اللهِ الرَّحمنِ الرَّحِيمِ

بیا به دفاتحی سورة ووایی

الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ١ الرَّحْمـنِ الرَّحِيمِ ٢ مَـلِكِ يَوْمِ الدِّينِ٣

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ٤ اهدِنَــا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ ٥ صِرَاطَ

الَّذِينَ أَنعَمتَ عَلَيهِــمْ غَيرِ المَغضُوبِ عَلَيهِمْ وَلاَ الضَّــالِّينَ ٦

بیا یو سورة یا کم ترکمه دری آیته ولولي

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ١ اللَّهُ الصَّمَدُ ٢ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ٣ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ ٤

په قیام کښې به د سجدې ځای ته ګوري او د دواړو پښو ترمنځ لږ ترلږه باید د څلورو ګوتو په اندازه فاصله موجوده وي د دواړو پښو پنجې به د قبلې لورې ته وي ، د سورت څخه ورسته به الله اکبر ووایي رکوع ته به ولاړ سي

رکوع به داسې کوي چه د ده د شا ورستۍ حصه ، ملا او سر د تختې په شان برابر او هوار وي سر ډیر ټیټول یا شا اوچت لوړساتل نه دي پکار د دواړو لاسو نو ګوتې به پراخه په ګونډو نیسي ،ښځه به د ومره ښکته کیږي چې لاسونه یې زنګون ته ورسي

بیا به ښه په قراره کم تر کمه دری ځله سُبْحَانَ رَبِيَّ الْعَظِيْمِ ووایي ورسته به قومې ته ولاړسی که امام وي سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَه به ووایي او مقتدیان به رَبنَا وَلَكَ الْحَمْدُ ووایي او تنها سړی به دواړه ووایي ،ورسته به الله اکبر ووایي سجدی ته به ولاړسی کم تر کمه به دری ځله سُبْحَانَ رَبِيَّ الاَعلی ووایي،سجده په داسې شان کول پکار دی چې لومړی دواړه زنګنونه پر ځمکه ولګوي بیا د دواړو لاسونو پنجی د غوږونو په برابر کیښیږدي بیا پزه او تندی دواړه پر ځمکه ولګوي ، د دواړو لاسو څنګلی او مړوندونه د ځمکی څخه پورته اونس د ورنونو څخه جلا ساتل پکار

دی دلمونځ کوونکی دنس او ځمکی ترمنځ دومره ځای پکار دی چه د
وزې وړوکې بچی (مرغومی) دهغه لاندی تیریدلی سی او دښځو لپاره
ورنونه دنس سره پیوسته کول او پښی په ځمکه باندی غوړیدلی ساتل

بیا به الله اکبر ووایي جلسې (ناستی) ته به ولاړسی یعنی د دواړو سجدو
ترمنځ کیناستل پداسې شان چه ښه پوره کښیني او دبدن اندامونه چی
ښه قرار ونیسی دچرګ دمشوکی وهلو په شان سجده سره دی لمونځ نه
نکوی بیا به الله اکبر ووایي دوهمی سجدی ته به ولاړسي دری ځله به
سبحان ربي الأعلى ووایي ورسته به الله اکبر ووایي له سجدې
څخه به پورته سی له سجدی څخه به داسې پورته کیږي چی لومړي به
تندی او ورسته لاسونه پورته کوي د دواړو لاسونو په پنجو به ګونډې
ونیسي او قیام ته به ځی اوس یو رکعت پوره سو ، په دوهم رکعت کی به
لومړی بسم الله الرحمن الرحیم ووایي بیا به سورة فاتحه ولولې آمین به
ووایي بیا به یو سورت یا دری آیته ووایي بیا به الله اکبر
ووایي رکوع ،قومه ،سجده او جلسه به وکړي بیا د دواړه سجدو څخه
پس به قعده وکړي قعده کې به داسې کښینی چی ښی پښه ولاړه دپښی
ګوتی دقبلی په طرف وي او کیڼه (چپه) پښه به څملوي د پاسه دې پرې
کښیني او دواړه لاسونه به پر ورنو ږدي او تشهد به وایي ، ښځه به دواړه

**ښئ ښی طرف ته ایستل او خپل ښئ ورون دګین ورون سره جنګول په هغه کښیناستل پکار دي او تشهد به وائی**

اَلتَّحَيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَواتُ وَالطَّيِّباتُ، اَلسَّـلاَمُ عَلَيْكَ أيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُه ،

اَلسَّلاَمُ عَلَيْنَا وَعَلى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ، أشْهَدُ أنْ لاَ إلهَ إلاَ اللهُ وَأشْهَدُ أنْ مُحَمَّدًا عَبْدُه وَرَسُوْلُه

**دلومړی قعدی لپاره همدا تشهد ترپایه لوستل کيږی که آخری قعده وی نو درود او دعا به هم ترپایه ووایي**

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلى مُحَمَّدٍ وَعَلى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلى إبْرَاهِيْمَ وَعَلى آل إبْرَاهِيمَ، إنَكَ حمِيْد مَجِيْد

اَللّٰهُمَ بَارِكْ عَلى مُحَمَّدٍ وَعَلى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلى إبرَاهِيمَ وَعَلى آلِ إبرَاهِيمَ، إنَكَ حميْد مَّجِيْد

**بیا به دُعا ووایی**

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اتِنَا فِى الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّ فِى الاخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّار

**ورسته بهپه**

اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ الله **پهویلو لومړی ښې طرف او بیا چپ طرف ته سلام وګرځوي**

**ورسته له لمانځه څخه بهدا دُعا ووايی**

اَللهُمَ اَنْتَ السَّلاَمُ وَمِنْکَ السَّلاَمُ تَبَارکْتَ يَاذَالجَلاَلِ وَالاَکْرَامِ

## ډک رکعت دا مطلب دی چی دالحمدلله سره سورت وویل سی خالی رکعت دامعنی چی دالحمدلله سره سورت نه وویل سی سنت همیش ډک وی

### درکعاتونه جدول

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| سهار | دوه سنت دواړه ډک وی | دوه فرض دواړه ډک وی | | |
| ماپښین | څلور سنت څلور سره ډک | څلور فرض دوه ډک دوه خالی | دوه سنت دواړه ډک | |
| ماځیګر | څلور فرض دوه ډک دوه خالی | | | |
| ماښام | دری فرض دوه ډک یو خالی | دوه سنت دواړه ډک | | |
| ماخوستن | څلور فرض دوه ډک دوه خالی | دوه سنت | دری وتر | |
| جمعه | څلور سنت | دوه فرض | څلور سنت | دوه سنت |

# دآذان اواقامت طريقه

اللَّهُ أَكْبَرُ ، اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ ، اللَّهُ أَكْبَرُ (ځلورځلی)

الله ترټولو لوئی دی

أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ(دوه ځلی)

: زه شاهدی ورکوم چې دالله څخه پرته بل خدای دعبادت وړ نسته ،

أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ (دوه ځلی)

زه شاهدی ورکوم چې محمدﷺ دالله ﷻ بنده او رسول دی

حَيَّ عَلَى الصَّلاةِ حَيَّ عَلَى الصَّلاةِ (دوه ځلی)

لمانځه ته راسئ

حَيَّ عَلَى الْفَلاحِ حَيَّ عَلَى الْفَلاحِ(دوه ځلی)

بریالیتوب ته راسئ

اللَّهُ أَكْبَرُ ، اللَّهُ أَكْبَرُ (دوه ځلی)

الله ترټولو لوئی دی

لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ(یوځلی)

دالله څخه پرته بل دعبادت وړ نسته

پہ اقامت کی بہ دوہ ځلی

(قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ ،          قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ)

پہ تحقیق سرہ لمونځ ودریدئ

تر حَيَّ عَلَى الْفَلاحِ          ورستہ بہ دوہ ځلی ووائی

اودسھار پہ آذان کی بہ

اَلصَلوةُ خَيرٌ مِنَ النَّومِ   اَلصَلوةُ خَيرٌ مِنَ النَّومِ

لمونځ ترخوب بهتردی

تر حَيَّ عَلَى الْفَلاحِ ورستہ بہ دوہ ځلی ووائی

# ورځنۍ سنت دعاګاني

**دخواړو دشروع کولو دعا** بِسمِ اللهِ وعَلى بَرَكَةِ اللهِ "

کەیی اول کی دعاهیره وی پەمابین کی بەدادعا وائی بِسْمِ اللَّهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ "

**دخواړو پەآخرکی دعا** الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ

**دخوب(بیدیدو) دعا** پەاوداسەسره مخ پرقبلەپر ښی اړخ پریوځی دادعا بەووائی اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا

**چی راویښ سی دادعا بەوائی** الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ

**کەخوب نەورتلی دادعابەوائی** اَللهُمَّ غَارَتِ النُّجُومُ وَهَدَأَتِ العُيُونُ وَأَنتَ حَيٌّ قَيُومٌ لَا تَأْخُذُكَ سِنَّةٌ وَلَا نَومٌ يَا حَيٌّ يَّا قَيُومٌ أَهدِئ لَيلِي وَأَنِم عَينِي

**دنوړږئ دعا** نوړږئ (پرنجی) کونکئ بەدادعا وائی الحمد لله

ناست خلک به ورته وائی يَرْحَمُکَ اللَّهُ

نور ږئ کونکئ به بیا ورته وائی يَهْدِيكُمُ اللَّهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ

**دمسجد دعا** مسجد ته به لو مړئ ښی پښه ننباسی بیا دا دعا وائی

اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ

دمسجد څخه به لومړئ کینه(چپه) پښه راباسی بیا دا دعا وائی

اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ

**دبیت الخلاء دننوتلو دعا** لومړئ به دا دعا وائی اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِکَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ بیا به(دضرورت ځای) ته لومړئ کینه پښه ننباسی

چی راوځی لومړئ به ښی پښه راباسی بیا به دا دعا ووائی

اَلْحَمْدُ للهِ الَّذِی أَذْهَبَ عَنِّی الْأَذَی وَعَافَانِیْ

**دآذان دعا** دآذان کونکی سره به دآذان کلمی وائی دآذان ځواب به ورکوی د حَيَّ عَلَى الصَّلاةِ او حَيَّ عَلَى الْفَلاحِ پرځای به وَلاحَولَ

وَلا قُوَّةَ اِلا بِاللهِ العَلی العَظِيم وائی چی آذان خلاص سو نودرود شریف اوداد عابه وائی

اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلاَةِ القَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الوَسِيلَةَ وَالفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ

## اسلامی پوښتنې

**پوښتنه** " ته څوک یې ؟

ځواب " زه مسلمان یم

پوښتنه " موږ چا موندلي یو؟ او دمځکې او آسمان مالک څوک دی؟

ځواب " موږ الله تعالی دخپل عبادت لپاره موندلي یو، دمځکې او آسمان بلکې دکائناتو دهرڅه مالک الله دی

پوښتنه " لمونځ څه ته ویل کیږی ؟ او پرچا فرض دی؟

ځواب " لمونځ یو خاص عبادت دی ، پرمسلمان عاقل بالغ نر او ښځه فرض د ی.

پوښتنه " فرض لمونځونه څو دي؟نومونه یې څه دي ؟

ځواب" فرض لمونځه پنځه دي نومان یې لاندی دی

(۱)فجر دسهار لمونځ دی (۲)ظهر دماپښین لمونځ دی (۳)عصر دمائیگر لمونځ دی (۴)مغرب دماښام لمونځ دی (۵) عشاء دماخوستن لمونځ دی

پوښتنه "اسلام دچادین دی؟

ځواب" دالله جل جلاله دین دی خپل پیغمبر ﷺ ته ورکړی وو

پوښتنه "پیغمبر چاته وائی؟

ځواب" دالله تعالی استاذی ته وائی چی دالله پیغام دالله بندگانو ته راوړی

پوښتنه " څومشهوره پیغمبران راوښیه

ځواب" آدم علیه السلام نوح علیه السلام ،ابراهیم علیه السلام ،موسی علیه السلام، ،عیسی علیه السلام داود علیه السلام، محمد ﷺ

پوښتنه " ستاسو دنبي نوم څه دی ؟

ځواب " محمد ﷺ بن عبد الله

پوښتنه " ټول څو پیغمبران دی ؟

ځواب " یو لک څلورویشت زره زیات او کم پیغمبران دی

پوښتنه " دلومړی پیغمبر نوم څه دی ؟

ځواب " آدم علیه السلام

پوښتنه " دآخرنئ پیغمبر نوم څه دی ؟

ځواب " محمد ﷺ بن عبد الله دی

پوښتنه " ټول آسماني څو کتابونه دی ؟ او پر چا نازل سوی دی ؟

ځواب " (۱) تورات پر موسی علیه السلام نازل سوئ دی ،(۲) انجیل پر عیسی علیه السلام نازل سوئ دی ، (۳) زبور پر داود علیه السلام نازل سوئ دی ، (۴) قرآن مجید پر محمد ﷺ نازل سوئ دی ،

پوښتنه " آخری آسماني کتاب کوم یو دی ؟

ځواب " قرآن شریف دی

پوښتنه " قرآن شریف پرچانازل سو؟

ځواب "پرمحمد ﷺ باندی نازل سو.

پوښتنه " قرآن شریف په کومه ژبه دی؟

ځواب " په عربی ژبه دی.

پوښتنه " ټول څومذهبونه دی؟ نومونه یی څه دی ؟ امامان یی څوک دی؟

ځواب " ټول مذهبونه اوس څلوردی مشهورڅلوردی مخکی ډیروه هغوترقی ونکړه ختم سوه د مشهورومذهبو نومان یی لاندی دی :

(۱) حنفی مذهب. امام یی اعظم ابوحنیفهؒ (نعمان بن ثابتؒ)
(۲)شافعی مذهب. امام یی محمد ؒبن ادریس الشافعی (۳)حنبلی مذهب. امام یی احمد ؒ بن حنبل دی (۴) مالکی مذهب. امام یی مالکؒ بن انس دی

پوښتنه " ته دچاپه مذهب یی ؟

ځواب " زه امام اعظم ابو حنیفهؒ (نعمان بن ثابتؒ) په مذهب یم-

پوښتنه " د امام صاحب دا غه مذهب له کومه وو؟

ځواب  " د قرآن او احادیثو څخه یې را ایستلئ دی-

پوښتنه "  قرآن د چا قول دی؟

ځواب "   د الله جل جلاله قول دی

پوښتنه  "  احادیث د چا اقوال دی؟

ځواب  " د پیغمبرِ اسلام ﷺ اقوال دی؛

د ماشوم اسلامي روزنه

# دريمه برخه

تاليف :مفتی عبدالصمدمسرور

يادونه : ترهرڅه مخکی تيره حصه په تکرارکړئ دوی دری هفتی

## د اودس فرضونه

د اودس فرضونه څلور دی

(لومړی) ټول مخ مینځل (دویم)دواړه لاسونه د څنګلو سره مینځل

(دریم)د سر د څلورمې برخې مسح کول (څلورم)دواړه پښې د بجلکو ( بېلو یو ) سره مینځل

یادابنت:که له پورتنیو فرضونو څخه یو پاته سو ، اودس ناقص دی او په ناقص اوداسه هیڅ لمونځ نه صحیح کیږي

## د غسل فرضونه

د غسل فرضونه درې دي

(لومړی) د خولې پرېمنځل دي (غرغره)

(دویم)د پزې پرېمنځل دي (استنشاق)

(دریم)د ټول بدن پرېمنځل دي

## د غسل سنتونه

د غسل سنتونه په لاندې ډول دي

(۱)تر مړوندو پورې د دواړو لاسونو پرېمنځل

(۲)استنجا کول

(۳)له بدن څخه د ظاهري نجاست لرې کول

(۴)له غسل څخه مخکې د لمانځه د اوداسه په شان اودس کول خو که غسل يې په داسې ځای کې کولو چې اوبه هلته ډنډ ودريږي نو پښې به له غسل څخه وروسته پرېمنځي

(۵)بيا به ټول بدن باندې درې ځلې اوبه تېرول لومړی پرسر او به بهول بيا پر ښۍ اوږه او بيا پر چپه اوږه

که غسل کوونکی ښځه وي او د ويښتانو ېخونو ته يې اوبه رسېدلي وي نو د کوڅيو خلاصول او وينځلورباندې ضروري نه دي . او که نارينه وي او کوڅۍ يې لرلې نو د کوڅيو سپړل او پرېمنځل ورباندې ضروري دي

## د غسل قسمونه

غسل په څلور قسمه دی

(۱)(فرض)، د جُنابت غسل او د حېض او نفاس د پاکېدلو غسل فرض دی

(۲)(واجب)، که کافر په حالت د جنابت کې مسلمان سي

غسل ورکول مسلمان مړي ته په ژوندو مسلمانانو واجب دي که ټول بدن ته يې ظاهري نجاست رسېدلی وي

(۳)(سنت): د جمعې د لمانځه، د اخترونو د لمونځونو، د احرام او په عرفات د درېدلو لپاره غسل کول سنت دي

(۴)مستحب: هلک یا نجلۍ چې پنځلس کلنۍ ته ورسي، کافر چې مسلمان شي او جنب نه وي، مدينې منورې ته د ننوتلو د پاره او داسې نور

## دلمانځه فرضونه

دلمانځه دیارلس فرضونه دي چې اوه دلمانځه څخه بهر او شپږ په لمانځه کښې د ننه دي کوم چه دلمانځه څخه بهر دي هغه ته دلمانځه

شرطونه وايي او کوم چې په لمانځه کې دننه دي هغه ته دلمانځه ارکان وايي .

## لومړی دلمانځه شرطونه :

پدې شرطونو کې که يو هم پاتې سي لمونځ نه صحی کيږي .

۱- په وخت لمونځ کول : دوخت څخه مخکې يا ورسته لمونځ کول نه صحی کيږي .

۲- دبدن پاکوالی : يعنی دلمونځ کونکي بدن به دحقيقي او حکمي ناپاکی څخه پاک وي که اودس نلري اودس به کوي او که غسل نلری غسل به کوي او که په بدن يې پليتی وي هغه به مينځي .

۳- دجامو پاکوالی : جامی به پاکې وي که نجاست غليظه يا خفيفه وي هغه به پريمنځي .

۴- دلمانځه دځای پاکوالی : که فرش ،جاينماز او يا ځمکه وي هغه به پاک وي .

۵- ستر (عورت) : بدن به په جامو پټ وي دنر لپاره کم تر کمه دزنګون څخه تر نامه پورې او دښځی ټول بدن بغيرد لاسونو ،مخ او

پښتو نور ټول بدن عورت دی چې جامه به نازکه نه وي چې د بدن کوم ځای ور څخه ښکاره نسي .که د نر د پښتو ښنګري (بجلکی) پټې وي لمونځ يې مکروه دی او که د ښځی ښنګري ښکاره سې لمونځ يې مکروه دی .

۶-مخامخ قبلی دریدل :

۷-دلمانځه نیت کول : نیت خو همغه د زړه اراده ده خو په ژبه کول بهتره دی .

## دلمانځه ارکان :

د لمانځه ارکان شپږ دي .

۱-تکبیر تحریمه-یعنی د نیت تړلو په وخت کښې الله اکبر ویل .

۲-قیام-یعنی د سبحانک اللهم-الحمدالله او سورّة لوستلو لپاره په ولاړه دریدل .

۳-قرآئت-یعنی د الحمد لله او آمین څخه ورسته یو سورت یا کم تر کمه دری آیته لوستل .

۴-رکوع

**۵-سجده**

**۶-په آخره قعده کې په څومره وخت کې چه تشهد لوستی سي دومره ساعت کیناستل.**

**یادابنت:**

**که له شرطونو اوارکانو څخه یو هم قصداً یا په هیره سره پاتې سي لمونځ یی نه صحی کیږي**

# اسماء الحسنی

| لمړی د جـــــمالـــــي صـفـات ژباړه<br><br>جمالي صفات<br>: یعني هغه اسماء او صفات چې د هغو ښخه د خدای رحم او کرم او شفقت او محبت ښرګندیږي | | | جلالي صفـــــــــات<br>: یعني هغه اسماء او صفات چې د هغو ښخه د خدای لوئی او کبریائي او شهنشاهي ښرګندیږي. |
|---|---|---|---|
| الرحمنُ | رحــــــم کوونکی | ۱ | المالک و المَلِکُ | : بادشاه فرمانروا |
| : الرَحِيم | رحــــــم کوونکی | ۲ | العَزِيزُ | : غالب چې د هیچا لاس پرې نه رسیږي |
| اَلرَّبّ : | پالونکی | ۳ | القَاهِرُ و القَهَارُ | : چې د هغه د حکم ښخه هیښوک نسي وتلائی تول په خپل قوت سره په خپل قابو کښي ساتونکی |
| اَللَطِيفُ : | د لطف خاوند مهربان | ۴ | اَلمُنتَقِمُ | : سزا ور کوونکی ، د بدو عملو جزا ور کوونکی |
| العَفُو : | معافوونکی او تیرېدونکی | ۵ | اَلجَبَّارُ | : د جبروت خاوند ، چه د هغه په مخ کښي بل ښوک سانسي کښلای یعني دهغه د حکم ښخه ښوک غاړه نسي غړولائی |
| اَلوَدُودُ | محبوب ،مینه کوونکی | ۶ | اَلمُهَيمِنُ | : په ټولو شاهد او ګواه او دلیل |
| اَلسَّلَامُ | امن او سلامتی والا، او د هر عیب ښخه پاک او صاف | ۷ | اَلمُتَكِبِرُ | : د خپلي لویی ښووونکی ، د لویی خاوند ، |
| اَلمُحِبُّ | د محبت خاوند ، مینه کوونکی | ۸ | شَدِيدُ العِقَابِ | : د سختي سزا خاوند |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اَلمُؤمِنُ | امان ورکوونکی ، امن بخښونکی او د هرمصیبیت څخه نجات ورکوونکی او خلاصوونکی | ۹ | شَدِیدُ البَطشِ : | ډېر سخت نیوونکی ، یعني داسي ټینګ نیونکی چه هیڅوک ورڅخه نسي خلاصېدلای |
| اَلشَّکُورِ | : د خپلو نیکو بندګانو د نیک اوښه عمل قبلوونکی او خوښونکی | ۱۰ | د وحدانیت صفات<br>یعني هغه اسماء او صفات چی د هغو څخه د خدای یوالی څرګندیږي | |
| اَلغَفُورُ وَالْغَفَارُ | : معافوونکی ، د ګناه بخښونکی ، ژغورونکی او ساتونکی | ۱۱ | اَلوَاحِدُ | : یو |
| اَلحَفِیظُ وَالْـحَافِظُ | : حفاظت کوونکی ، ساتونکی ، ژغورونکی | ۱۲ | اَلاَحَدُ | : یو |
| اَلوَهَابُ | : ورکړه کونکی ، عطا کوونکی ،وربخښونکی | ۱۳ | اَلوِترُ | : طاق یعني هغه ذات چه هیڅ جوړه نه لري |
| اَلرَّازِقُ وَالرَّزَّاقُ | : روزي ورکوونکی ، او د ودي او نشؤنماد سامان برابرو ونکی | ۱۴ | وجودي صفتونه<br>یعني هغه صفتونه چه د هغو صفتونو څخه د هغه د وجود بقاء دوام ، ازلیت او بیز والی څرګندېږي | |
| اَلوَلِيُّ | : دوست ، حمایتي یعني مرسته کونکی او طرفدار | ۱۵ | اَلمَوجُو دُ | : د وجود خاوند |
| اَلرَؤُفُ | : مهربان ، نرمي او شفقت کوونکی | ۱۶ | اَلحَيُّ | : تل ژوندی یعني غیر فاني |
| اَلمُقسِطُ | : د انصاف او عدل خاوند | ۱۷ | اَلقَدِیمُ | : هغه ذات چی له هغه څخه لومړی بل موجود نه وي یعني چی د همیشه څخه دی |
| اَلهَادِئُ | : لار ښوونکی ، رهنما | ۱۸ | اَلقَیُومُ | : چی په خپل قدرت ئي ټول کائنات په قبضه کښي دی |
| اَلکَافِئُ | : د خپلو بندګانو د هر ضرورت د پاره بس او کافي | ۱۹ | اَلبَاقِئُ | : چی همیشه او تل د پاره د بقاء خاوند دی |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اَلمُجِيبُ | : قـــــــــبلوونکی د دعاگانو اورېدونکی | ۲۰ | اَلدَائِمُ | : تل هو همیشه اوسېدونکی |
| اَلحَلِيمُ | : بردبار ، د بندگانو له بدیو څخه سترگی پټوونکی | ۲۱ | اَلاَوَّلُ | : هغه لمړی چی له هغه څخه لمړی بل هیڅوک نسته |
| اَلتَّوَابُ وَقَابِلُ التَّوْبِ | : توبه قبلوونکی او د گنهگارانو له گناهونو څخه تېرېدونکی او بیا د هغو خواته رجوع کوونکی | ۲۲ | اَلاٰخِرُ | : هغه ورستی چی دټولو دفناڅخه وروسته به هم باقي وی |
| اَلحَنَّانُ | : د مور غوندي په بچو باندي شفقت کوونکی پخلاکونکی | ۲۳ | اَلمُقَدِّمُ | : هغه ذات چی له ټولو څخه وړاندي دی |
| اَلمَنَّانُ | : احسان کوونکی | ۲۴ | اَلمُؤَخِّرُ | : چی له ټولو به ورسته پاته شي |
| اَلنَّصِيرُ | : مرسته کوونکی | ۲۵ | اَلظَّاهِرُ | :چی دهغه وجود ښکاره او څرگند دی یعني د خپلو کارونو او قدرتونو په لحاظ ښکاره او څرگند دی |
| ذُوالطَّولِ | : کرم کوونکی | ۲۶ | اَلبَاطِنُ | : چی پټ او مخفی دی یعني هغه ذات چی د خپل ذات په لحاظ پټ دی |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ذُوالفَضلِ | : د فضل خاوند | ۲۷ | : قـــــدرت یعني هغه صفتونه چه د هغو صفتونو څخه د هغه د قدرت وسعت څرګندیږي | |
| اَلکَفِیلُ | : د بندګانو کفالت کوونکی | ۲۸ | اَلفَاتِحُ و اَلفَتَّاحُ | : د هر مشکل پرانستونکی او خلاصوونکی |
| اَلوَکِیلُ | : دبنده د ضرورتونو په غاړه اخیستونکی ، د بندګانو د ضرورتونو د پاره سامان برابروونکی | ۲۹ | اَلقَدِیرُ وَالقَادِرُ | : د قدرت خاوند |
| اَلمُقِیتُ | : روزي رسوونکی | ۳۰ | اَلمُقتَدِرُ | : د اقتدار خاوند ـ چی دهغه په مخکښي هیڅوك ګړ نسي کولای |
| اَلمُغِیثُ | : فریاد ته رسېدونکی ، فریاد اورېدونکی | ۳۱ | اَلقَوِیُّ | : زبر دست چی د هغه په مخکښي د هیچا وس نه چلیږي |
| اَلمُجِیرُ | : پناه ورکوونکی | ۳۲ | اَلمَتَینُ | : مضبوط چی هیڅ کمزوری او ضعف او سستي او ناتواني نه لري |
| اَلمُغنِیُ | غناء ورکونکی | ۳۳ | اَلجَامِعُ | : جمع کوونکی ، د متفرقو او خپرو شیانو را یو ځای کوونکی |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| عــــــــــــلم : يعني هغه صفتونه چې هغه صفتونه دا حقيقت څرګندوي چې هغه له هر شی څخه خبر او په هر څه پوه دی | | ۳۴ | اَلبَاعِثُ | : را پاڅوونکی د مړیو د قبرو څخه ، یا په نړیَ کښي د هر واقعې او پېښي او حادثې لمړنی محرک |
| اَلخَبِيرُ | : خبر لرونکی | ۳۵ | مَالِكُ المُلكِ | : د سلطنت خاوند چې د هغه په مخکښي د هیچا هیڅ ملکیت نسته |
| اَلعَلِيمُ | : د علم او پوهي خاوند پوهېدونکی | ۳۶ | اَلبَدِيعُ | : د نويو نويو شيانو ايجاد کوونکی |
| عَلّامُ الغُيُوبُ | : کومي خبری چې هغه له ټولو څخه پټي دي په هغو ټولو پوهېدونکی | ۳۷ | اَلوَاسِعُ | : ځای ورکوونکی او ځایه وونکی چې هر شي ئې په خپل قدرت کښي ځای کړي دي او هر شي ته ئې ځای ورکړی دی |
| عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ | : د زړونو په پټو رازو پوهېدونکی | ۳۸ | اَلمُحِيطُ | : احاطه کوونکی چې په هر شي ئې احاطه کړېده یعني هیڅ شئ د هغه د احاطې څخه نه دی وتلی |
| اَلسَّمِيعُ | : اورېدونکی | ۳۹ | اَلمُحیُّ وَالمُمِيتُ | : ژوندی کوونکی - وژونکی |
| اَلبَصِيرُ | : لیدونکی | ۴۰ | اَلقَابِضُ وَالبَاسِطُ | : راغونډوونکی راټولونکی او خپروونکی غوړونکی |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اَلمُتَكَلِّمُ | :خبري کوونکی یعني د خپل علم او اراديٍ څرګندونکی | ۴۱ | اَلمُعِزُّ وَالمُذِلُّ | : عزت ورکوونکی او ذلت ورکوونکی |
| اَلوَاجِدُ | : موندونکی چی د هغه د علم څخه کوم شی ورك نه دی | ۴۲ | اَلخَافِضُ وَالرَّافِعُ | : کښته کوونکی او پورته کوونکی |
| اَلشَّهِیدُ | : حاضر چی د هغه د مخي څخه کوم سی غائب نه دی | ۴۳ | اَلمُعطِیُ وَالمَانِعُ | : ورکوونکی او منع کوونکی یعني ورکوونکی او نه ورکوونکی |
| اَلحَسِیبُ : | حساب کونکی یعني د کومو شیانو علم چی د حساب په ذریعه حاصلولای سی ، یعني په وزن او مقدار هم پوهیږي او علم وربانديلري | ۴۴ | اَلنَّافِعُ | : ګټه رسوونکی او زیان رسوونکی یعني ګټه او ضرر دواړه د هغه په لاس او قدرت کښي دي |
| اَلمُحصِیُ : | شمیررونکی - یعني د کومو شیانو علم چی په شمیرلو حاصلیږي یعني اعدادو هم پوه دی | ۴۵ | اَلمُبدِيُ وَالمُعِیدُ | : کوم شی چه پخوا موجود نه وي د هغه پیدا کوونکی ، او کوم شی چه د پیدا کېدلو څخه ورسته فنا سوی وي د هغه شي بیا پیدا کوونکی |
| اَلمُدبِرُ | : تدبیر کوونکی ، انتظام کوونکی | ۴۶ | | |
| اَلحَکِیمُ | : د حکمت خاوند - د پوهی خاوند . د ټولو کارونو په مصلحت سره کوونکی | ۴۷ | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | ۴۸ | : اراده کوونکی ، د مشیت خاوند | اَلمُرِیدُ |
| | | ۴۹ | : نژ دې چه د خپل علم په لحاظ ګویا ټولو څخه دی | اَلقَرِیبُ |
| | | ۵۰ | : تنزیهه<br>یعني هغه صفات چه هغه صفات د هغه لوئی او کبریائی او پاکي او نېکي او دهر راز عیب او نقصان څخه د هغه پاکي او براء ت څرګندېږي | |
| | | ۵۱ | : د مرتبې خاوند | اَلعَلِیُّ |
| | | ۵۲ | : د عظمت خاوند | اَلعَظِیمُ |
| | | ۵۳ | : لوی | اَلکَبِیرُ |
| | | ۵۴ | لوړ | اَلرَّفِیعُ |
| | | ۵۵ | : بزرګ | اَلجَلِیلُ |
| | | ۵۶ | : شریف | اَلکَرِیمُ |
| | | ۵۷ | : بې نیاز | اَلغَنِیُّ |

# ورځنۍ سنت دعاګاني

## دحفاظت دعا(آية الكرسى)

اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ ۚ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ۚ لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ ۚ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ۖ وَلَا يَؤُودُهُ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ﴾

## دسفر دعا

سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا، وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ، وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ

## دباران دطلب دعا

اللهم اسْقِنَا غَيْثًا مُغِيثًا مَرِيئًا مَرِيعًا نَافِعًا غير ضَارٍّ عَاجِلًا غير آجِلٍ

## دباران په وخت کی دعا

اللَّهُمَّ صَيِّبًا نَافِعًا

## چی باران تیز یا اوربد سی

اللَّهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلاَ عَلَيْنَا، اللَّهُمَّ عَلَى الآكَامِ وَالظِّرَابِ ، وَبُطُونِ ''
''الأَوْدِيَةِ ، وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ

## چی کله څوک احسان درسره وکړی او احسان کونکۍ نارینه وی نو دا دعا وایه

جَزَاكَ اللَّهُ خَيْرًا

## او چی احسان کونکی زنانه وی نو دا وایه

جَزَاكِ اللَّهُ خَيْرًا

## آینی او هینداری ته د کتلو دعا

اللَّهُمَّ حَسَّنْتَ خَلْقِي فَحَسِّنْ خُلُقِي

## چی د خره یا سپی آواز واوری دا به وائی

اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

## د مشکل څخه د خلاصون دعا :

بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي " السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيْمُ"

## د مجلس په آخرکی دعا:

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لا إلهَ إلاَّ أَنْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ : وَأَتُوبُ إِلَيْكَ،

## اسلامی پوښتنی

پوښتنه "زموږ د رسول ﷺ نوم څه دی؟

ځواب " "زموږ د خوږ رسول ﷺ نوم محمد ﷺ دی

پوښتنه "زموږ رسول ﷺ کله او چیری پیدا سو؟

ځواب " زموږ رسول ﷺ د عربو په مشهور ښار المکة المکرمة کی د ربیع الاول (لومړی خور) پر دولسم تاریخ په ۵۷۱ میلادی کال کی پیدا سو.

پوښتنه "زموږ د رسول ﷺ د پلار او مور نومان څه وو؟

ځواب " زموږ د رسول ﷺ د پلار نوم عبدالله وو او د مور نوم یې آمنه وه

پوښتنه "زموږ د رسول ﷺ دا کا او نیکه نومان څه وو؟

ځواب " دا کا نوم یې ابوطالب وو د نیکه نوم یې عبدالمطلب وو

پوښتنه "زموږ رسول ﷺ ته د څو کالو په عمر نبوت ورکول سو؟

ځواب " زموږ رسول ﷺ ته پر څلویښتم کال نبوت ورکول سو

پوښتنه "زموږ رسول ﷺ کله او چیری وفات سو؟

ځواب " د ربیع الاول (لومړی خور) پر دولسم تاریخ په مدینه منوره کی

پوښتنه "زموږ د رسول ﷺ عمر ټول څو کاله وو؟

پوښتنه "زموږ رسول ﷺ څو عمر په مکه کی او څو عمر په مدینه کی تیر کړی؟

ځواب " درو پنځوس کاله په مکه کی وو لس کاله په مدینه کی وو.

ځواب " زموږ د رسول ﷺ عمر ۶۳ کاله وو

پوښتنه "فرشتی (ملائکه) څوک دی؟

ځواب " دالله‌تعالی یونورانی مخلوق دی له‌نوره‌یی موندلی دی نه نردی او نه ښځینه دی نه څه‌خوری او نه څه ځیښی

پوښتنه " فرشتی (ملائکه) څو دی ؟

ځواب " یوائی الله‌تعالی ته‌یی شمیر معلوم دی .

# څلورمه برخه

تالیف :مفتی عبدالصمدمسرور

یادونه: ترهرڅه مخکې تیره حصه په تکرارکړئ دوی دری هفتې

## ..اودس ماتونکی څیزونه(داوداسه نواقض)

(۱)وړی بولی یالوی بولی کول یاپه دی دواړولاروڅه شی(هوا وغیره) وتل

(۲)دبدن دڅه ځای څخه وینه وغیره وتل اوبهیدل

(۴)په ډکه خوله قی کول(۵)په ډډه لګه ولوسره اوده کیدل

(۶)نشه کیدل(۷)بی هوښه کیدل(۸)لیونی کیدل(۹)په لمانځه کی په دومره آوازسره خندل چه دنیزدی تهول خلق یی واوری.

داتهول داودس ماتونکی شیان دی ورونو !ډیرپه غورسره ولولئ اوزده کړئ.

## دلمانځه مفسدات

يعنی په کومو شیانو چی لمونځ ماتیږي او دلمانځه بیا کول ضروري وي

(۱)په لمانځه کې قصدًا یا په هیره سره خبرې کول

(۲)په لمانځه کې چاته سلام کول یا په ژبه دسلام ځواب ورکول

(۳)دپرنجی(نورږئ) کوونکی دالحمد الله ویلو ځواب په یرحمک الله سره ورکول

(۴)دلمانځه څخه بهر کوم څوک دعا کوي هغه ته په لمانځه کې آمین ویل

(۵)دمرګ ،مرض یا کوم بل بد خبر واوري په هغه باندې انا الله وانا الیه راجعون ویل

(۶)دخوشحالۍ دخبری په اوریدو الحمد الله یا بله کلمه ویل

(۷)دتعجب په خبره باندې سبحان الله یا کومه بله کلمه ویل

(۸)د درد اوتکلیف په وجه آه آه ،اُف کول که دجنت دوزخ یا دقبر غذاب دیاد په وجه وي باک نلری

(۹)په کتاب یا بل څه لیکل سوي سي باندې نظر لګیدل دهغه په ژبه سره ویل کچیری یوائحی په زړه کې دهغه په مطلب پوه سي نو لمونځ نه ماتوي

(۱۰)په کتلو سره قرآن لوستل

(۱۱)دلمانځه څخه بهر قرآن لوستونکی ته فتح ورکول

(۱۲)عمل کثیر –یعنی داسی کار کول چه کتونکی فکر وکړي دا سړی لمونځ نه کوي مثلاًدځان ډیر ګرول یا دجامو برابرول یا په بدن او جامو ډیر لاس وهل

(۱۳)بغیر له ضرورت څخه دغاړی تازه کول

(۱۴)قصدًا یا په هیره سره څه خوړل یا څه څښل

(۱۵)په قرآنکریم کې داسې غلطي کول چه معنی یی بدله سي (او بیرته یی اصلاح هم نکړی )

(۱۶)څلور پنځه قدمه په لمانځه کې تلل

(۱۷)دقبلې طرف څخه قصداً بلی خوا بغیر له کوم عذر څخه د قبلې څخه د سینی ګرځول

(۱۸)څلورمه حصه ستر دومره ساعت ښکاریدل چی په څومره وخت کې سړی یوه رکوع یا سجده کولی سي

(۱۹)دخدای (جل جلاله) څخه د داسې شی غوښتل چه هغه له بندګانو هم غوښتلی سی

(۲۰)د درد یا مصیبت له وجی داسې ژړل چی په آواز کې یې کلمات را
پیدا سي مثلاً ای الله

(۲۱)دجنازی لمانځه څخه علاوه په نورو لمونځونو کې په زوره خندل

(۲۲)په لمانځه کې د سړی سره د ښځی یو ځای دریدل تر دومره وخته چی
سړی کولی سی یوه سجده یا رکوع وکړي

(۲۳)دتیمم کوونکي لپاره د اوبو پیدا کیدل

## : دلمانځه مکروهات

یعنی هغه څیزونه چی لمونځ بالکل نه وربا ندی ماتیږي بلکی کراهیت
پیدا کوي لمانځه ته زیان رسوي د لمانځه ثواب کموي

دلمانځه مکروهات لس (۱۰) دانی دی

(۱)چارزانو ناسته ده بیله عذره -

(۲)دآیتونو شمیرل دی په لاس سره -

(۳)په سجده کی دبازوګانو غوړول دی لکه دګیدړی په شان -

(۴)په ستر ګو سره چپه یا رسته طرفته کتل دی -

(۵)دستر ګو پټول دی بیله عذره داکار دیهودو سره مشابهت دی -

(۶)د سجدی دځایه څخه دډبرو لیری کول دی بیله عذره -

(۷)سستی کول دی په لمانځه کی -

(۸)اربړمی کښل دی دا ښه ندی خوله دی پټه کړی که یی دخولی دټولید وقدرت نه درلودی نو بیادی لستوڼی یا رسته لاس پرخوله کښیږدی

(۹)ساتیری یا (بازی) کول دی په جامی یا په لاس او یا په ژبه سره -

(۱۰)دصف شاته یو ازی پر لمانځه دریدل که چیری په صف کی خالی ځای وی.

دا ټول مکروه دی ددغه ټولو شیانو څخه پرهیز کول دی چی لمونځ یی مکروه نسی

## دجنازې د لمونځ طريقه :

دجنازې دلمانځه مسنونه طريقه داده چې مړی به مخکې کښېښودې او امام به دهغه دسينې په برابر ودرېږي او امام او خلک به دجنازې دلمانځه دادا : کولو نيت وکړي چې په پښتو ژبه يې توري دادي

نيت کوم دجنازې دلمانځه سره د څلورو تکبيرو ، ثنا وايمه الله تعالی ته، درود وايمه پر نبی عليه السلام، دعا کوم دې حاضر مړي ته (اقتدا مې "کړې په دې حاضر امام پسې) مخ مې د کعبې شريفې په طرف. "الله اکبر

( امام به داتوري نه وايي چې (اقتدا مې کړې په دې حاضر امام پسې)

:او په عربي ژبه يې دنيت لپاره داتوري دي

کله چې مقتدي نيت وکړنو په سمدستي ډول به (الله اکبر) ووايي او له تکبيره وروسته به ثناء پيل کړي

سُبحانكَ اللهُمَ وَبِحَمدِكَ وَتَبارَكَ اسمُكَ وَتَعالى جِدُ كَ وَجَلَ ثناءُكَ وَلااِلهَ غَيرُ كَ

کله چې يې دا ثنا وويله نو بيا به (الله اکبر) ووايي او له همدې دوهمه تکبيره وروسته به درود ووايي

اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ " وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ اللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَىمُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ

کله چې یې درود شریف ووایه نو دریم تکبیر (الله اکبر) به ووایي او که مړی بالغ وو، که نر وو که ښځه نو دادعا به ووایي

اللهُمَ اغفر لِحينا, وَمَيتِنا, " وَشاهِدِنا,وَغائِبِنا,وَصَغيرِنا,وَكَبيرِنا,وَذَكَرِنا وَاِنثانا اَللهُمَ مَن احييتَه مِنا فَاحيه على اِلاسلامِ وَمَن تَوَفَيته مِنا فتوفه عَلى اِلايمان "

بیا به دڅلورم ځل لپاره (الله اکبر) ووایي او له څلورم تکبیر وروسته به سلام وګرځوی

## داختر دلمانځه طریقه:

### داختر دلمانځه نیت:

فقهاء کرامو فرمایلي دي چه په نیت کي ضروري ده چی انسان په زړه سره د هغه لمانځه اراده وکړي کوم چی د ئې ادا کوي البته که یو څوک په ژبه کوی دا الفاظ به ووایي

چې نیت کوم د زړه له اخلاصه د کوچنی اختر دوه رکعته لمونځ سره له شپږو تکبیرونو ادا کوم خاص خدای تعالی لره مخ مې د کعبې شریفې په لور الله اکبر

د کوچني او لوی اختر په لمنځونو کي په اول رکعت کي د تکبیر تحریمه سره چي فرض دی درې تکبیره واجب دي د تکبیر تحریمه تر ویلو وروسته به لاس تر نامه لاندي نیسي او په دوهم او دریم تکبیر کي به لاسونه ایله نیسي او په ځلورم تکبیر کي به هم لاسونه تر نامه لاندي نیسي

اول تکبیر: لاسونه پورته کېږي او تر نامه لاندي نیول کېږي

دوهم تکبیر: لاسونه پورته کېږي او ایله کېږي

دریم تکبیر: لاسونه پورته کېږي او ایله کېږي

ځلورم تکبیر: لاسونه پورته کېږي او تر نامه لاندي نیول کېږي

او په دوهم رکعت کي د رکوع د تکبیر څخه علاوه دري تکبیره واجب دي په اولو درو تکبیرو کي لاسونه تر غوږو پورته کېږي او ایله کېږي او په ځلورم تکبیر کي به بې له لاسو پورته کولو رکوع ته ولاړ سئ

قانون: یاد ولرئ چي په کوم ځای کي تر تکبیر وروسته یو څه ویل کېږي هلته لاسونه تر نامه لاندي نیول کېږي او په کوم ځای کي چي تر تکبیر وروسته یو څه نه ویل کېږي هلته لاسونه ایله کېږي

## داختر اړونداړین مسائل

د اختر د لمنځونو اصلي وخت کله چي لمر یوه نېزه راپورته سي او بیا تر زوال پوري

په صحراء کي د شرائطو د نه موجودیت په خاطر د اختر لمونځ واجب نه دئ

د اختر لمونځ پر هغه چا واجب دئ پر کوم چا چې جمعه واجبه وي

که یو سړی د اختر په لمانځه کي په داسي حال کي راغلی چي امام پر رکوع وو نو دئی به په ولاړه تکبیر تحریمه ووایي او که ئې امکان وو چي رکوع هم کولای سي نو تکبیرونه دي ووائي او که ئې امکان نه وو نو رکوع دي وکړي او تکبیرونه دي په رکوع کي ووایي خو لاسونه به نه پورته کوي

که مقتدي د امام سره په قومه(تررکوع ورسته ولاړه) کي شامل سو نو په قومه کي به تکبیرونه نه وايي ځکه چي مقتدی د اول رکعت سره د تکبیرو قضاء را وړي

که د یو چا څخه د اختر د لمانځه یو رکعت د جماعت تېر سو نو امام چي کله سلام وګرځوي مقتدی به ولاړ سي او ثناء (سبحنک اللهم...) تعوذ (اعوذبالله) تسمیه (بسم الله...) فاتحه (الحمد لله...) او سورت دي ووايي بیا دي تکبیرات زائده ووايي او رکوع دي وکړي او پاته لمونځ دي پوره کړي

مسبوق یعني هغه څوک چي د اختر لمونځ ځني تېر سوی وي او په آخره ناسته کي د التحیات وروسته تر سلام مخکي یا تر سلام وروسته تر سجده سهوي مخکي یا تر سجده سهوي وروسته خو امام لا سلام نه وي ګرځولی راسي، نو دغه نفر به ولاړ سي او نور پاته لمونځ به پوره کړي

کوم څوک چي اختری نه کوي د هغه لپاره هم د اختر لمونځ سته ځکه چي د اختر لمونځ مستقل واجب دی او اختری کول مستقل واجب دی نو که څوک د قدرت باوجود اختری نه کوي هغه سړی ګناه ګار دی

که چیري د یو چا ځخه د اختر لمونځ تېر سو نو په هغه ځای کي چي عیدګاه وه بل جماعت کول جائز نه دي بلکي بل ځای به په بل امام پسي د اختر لمونځ کوي

د اختر د لمانځه لپاره و عیدګاه ته د ښځو تلل مکروه دي که ئې په تللو کښي فتنه وه

پر ښځو باندي د اختر لمونځ واجب نه دی او که ئې هم وکړي نو لمونځ ئې نفل دی

یوازي ښځي (چی امام یی هم ښځه وی) د اختر لمونځ په جماعت سره نه سي ادا کولای

## سنت دعاګانی

مړی چی قبر ته شوه کوی دا دعا به وائی :

بِسْمِ اللَّهِ وَعَلٰی سُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ

دپیشلمی دعا یادروژی نیت

وَبِصَومِ غَدٍ نَّوَيْتُ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ

## دروژه مات دعا

اَللّٰهُمَّ لَکَ صُمْتُ وَعَلَى رِزْقِکَ اَفْطَرْتُ وَعَلَيْکَ تَوَکَّلْتُ فَتَقَبَّلْ مِنِّی، اِنَّکَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ

## دسفرداراده‌ی په‌وخت کی دعا

اللَّهُمَّ أَنْتَ عَضُدِي وَنَصِيرِي، بِكَ أَحُولُ، وَبِكَ أَصُولُ،

## دروانیدو پرمهال دعا

سُبْحَانَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَه مُقْرِنِيْنَ وَإِنَّـآ إِلىٰ رَبِّـنَا ) لَمُنْقَلِبُوْنَ اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ فِيْ سَفَرِنَا هٰذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوٰى وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضٰى اَللّٰهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هٰذَا وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَه اَللّٰهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ وَالْخَلِيْفَةُ فِي الْأَهْلِ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ وَسُوْءِ الْمُنْقَلَبِ فِي الْمَالِ وَالْأَهْلِ

## دسفرڅخه‌پرواپسی دعا

آئِبُوْنَ تَآئِبُوْنَ عَابِدُوْنَ لِرَبِّـنَا حَامِدُوْنَ »

## دکورڅخه‌دوتلودعا

بِسْمِ اللَّهِ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ

## کورته‌دننوتلودعا

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلِجِ، وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ، بِسْمِ اللَّهِ وَلَجْنَا، وَبِسْمِ اللَّهِ خَرَجْنَا، وَعَلَى اللَّهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا

## لاندی داوداسه دهراندام دپریوللو دګانی چی علماءویلی دی

## دخولی پریولل پرمهال دعا

بِاسْمِ اللهِ، اَللّٰهُمَّ اَعِنِّیْ عَلَی تِلَاوَةِ الْقُرْآنِ وِ ذِکْرِکَ وَ شُکْرِکَ وَ حُسْنِ عِبَادَتِکَ

## دپزی پریوللو دعا

بِاسْمِ اللهِ، اَللّٰهُمَّ اَرِحْنِیْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ وَلَا تَرِحْنِیْ رَائِحَةَ النَّارِ

## دمخ پریوللو دعا

بِاسْمِ اللهِ، اَللّٰهُمَّ بَیِّضْ وَجْهِیْ یَوْمَ تَبْیَضُّ وُجُوْهٌ وَّتَسْوَدُّ وُجُوْه

## دراسته لاس پریوللو دعا

بِاسْمِ اللهِ، اَللّٰهُمَّ اَعْطِنِیْ کِتَابِیْ بِیَمِیْنِیْ وَحَاسِبْنِیْ حِسَابًا یَسِیْرًا

## دچپ لاس پریوللودعا

بِاسْمِ اللهِ، اَللّٰهُمَّ لَا تُعْطِنِیْ کِتَابِیْ بِشِمَالِیْ وَلَا مِنْ وَّرَاءِ ظَهْرِیْ

## دسرد مسحې دعا

بِاسْمِ اللهِ، اَللّٰهُمَّ اَظِلَّنِیْ تَحْتَ ظِلِّ عَرْشِکَ یَوْمَ لَا ظِلَّ اِلَّا ظِلُّ عَرْشِکَ

## دغوږو د مسحې دعا

بِاسْمِ اللهِ، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ الَّذِیْنَ یَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَیَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَه

## دستې د مسحې دعا

بِاسْمِ اللهِ، اَللّٰهُمَّ اَعْتِقْ رَقَبَتِی مِنَ النَّارِ

## دراسته پښې پریوللو دعا

بِاسْمِ اللهِ، اَللّٰهُمَّ ثَبِّتْ قَدَمِیْ عَلَی الصِّرَاطِ یَوْمَ تَزِلُّ الْاَقْدَامُ

## دچپه پښې د پریوللو دعا

بِاسْمِ اللهِ، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ ذَنْبِیْ مَغْفُوْرًا وَسَعْیِیْ مَشْکُوْرًا وَتِجَارَتِیْ لَنْ تَبُوْرَ

## داوداسه په دوران کې دعا(داغه دعا په حدیث سره ثابته ده)

اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي وَوَسِّعْ لِي فِي دَارِي وَبَارِكْ لِي فِي رِزْقِي

## داوداسه ورسته دعا

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ، وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ

## ترلمانځه ورسته دری ځلی

اَسْتَغْفِرُ اللهَ

## اوبیا دادعا ویل کیږی

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْکَ السَّلَامُ تَبَارَکْتَ یَاذَاالْجَلَالِ وَالْاِکْرَامِ ۔

## دبالغ کس دجنازی دعا

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَیِّنَا وَمَیِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِیْرِنَا وَکَبِیْرِنَا وَذَکَرِنَا وَاُنْثَانَا۔ اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْیَیْتَه مِنَّا فَاَحْیِه عَلَی الْاِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّیْتَه مِنَّا فَتَوَفَّه عَلَی الإِیْمَانِ

## دنابالغ نارینه ماشوم دجنازی دعا

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطاً وَّاجْعَلْهُ لَنَا اَجْرًا وَّذُخْرًا وَاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّ مُشَفَّعًا

## دنابالغ ښځینه ماشوم دجنازی دعا

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطاً وَّ اجْعَلْهَا لَنَا اَجْرًا وَّ ذُخْرًا وَّ اجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً وَّ مُشَفَّعَةً

## دهديرى دعا

السَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْقُبُورِ يَغْفِرُ اللَّهُ لَنَا وَلَكُمْ أَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ ' بِالْأَثَرِ"-

## پەخوب کی دویریدلو ورستەدعا

أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ، وَشَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ

## دشيدو څيښلودعا

اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَزِدْنَا مِنْهُ

## دميلمەلخوا کوربەتەترخوراک ورستەدعا

اَللّٰهُمَّ اَطْعِمْ مَنْ اَطْعَمَنِىْ وَاسْقِ مَنْ سَقَانِىْ-

## دجامواغوستلوپەوخت کی دعا

* اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ كَسَانَىْ مَا اُوَارِىْ بِہٖ عَوْرَتِىْ وَاَتَجَمَّلُ بِہٖ فِىْ حَيَاتِىْ-

## دنووجامواغستلوپەوخت کی دعا

* اَللّٰهُمَّ لَکَ الْحَمْدُ کَمَا کَسَوْتَنِیْہِ، اَسْأَلُکَ خَیْرَہٗ وَخَیْرَ مَاصُنِعَ لَہٗ وَاَعُوْذُبِکَ مِنْ شَرِّہٖ وَشَرِّمَاصُنِعَ لَہُ

**چی زنانی یاانجلۍ نوی جامی واغوستی دادعاورته وو ایه**

اَبْلِیْ وَاَخْلِقِیْ

**چی سړی یاهلک نوی جامی واغوستی دادعاورته وو ایه**

* اِلْبَسْ جَدِیْدًا وَعِشْ حَمِیْدًا وَمُتْ شَہِیْدًا سَعِیْدًا۔

**دغم اومصیبت په وخت کی دعا**

إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ اللهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي، وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا

**ددښمن څخه دویری پر مهال دعا**

اَللّٰہُمَّ اِنَّا نَجْعَلُکَ فِیْ نُحُوْرِ ھِمْ وَنَعُوْذُبِکَ مِنْ شُرُوْرِ ھِمْ

**دمریض دپوښتنی دعا**

لاَ بَأْسَ، طَهُورٌ إِنْ شَاءَ اللَّهُ

أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيَكَ

**بازارته دداخلیدو دعا**

لا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَّا يَمُوتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٍ

## اسلامي پوښتني

پوښتنه "توحید څه معنی ؟او څه مطلب؟

ځواب " توحید معنی یو ګڼل ، او مطلب یی دادی چی الله تعالی په زړه کی یو ګڼل او په ژبه ددی اقرار کول.

پوښتنه "دخدای تعالی ذاتی نوم څه دی ؟

ځواب " الله دی دیته اسمِ ذات هم ویل کیږی.

پوښتنه "داسلام بنیادی (بنستیی) ارکان(بناوی) څواو څه دی ؟

ځواب " پنځه دی نومان یی لاندی دی

(۱)کلمه (طیبه) (۲)پنځه وخته لمونځ کول (۳)بډایی کس لره زکات اداکول (۴)روژی نیول (۵)یو ځلی حج کول

پوښتنه "دایمان څوارکان(بناوی) دی؟ اونومان یی څه دی؟ او مطلب یی څه دی؟

**ځواب " شپږ دی (۱) پر الله ایمان** (مطلب یې دادی چې الله دی له ازله وو تر ابده به وه ابتداء او انتهاء نلري ټول مخلوق یې موندلی دی دئ هیڅ ندی موندلی له ټولو عیبو څخه پاک دی زمو ږ پالونکئ او روزی راکونکئ دی) **(۲) پر رسولانو ایمان** (مطلب یې دا دی چې الله دمخلوق دهدایت لپاره یو لک څلورویشت زره زیات او کم استازی رالیږلی دی چې بندګان یې د الله لاری ته رابلل لومړی آدم علیه السلام او آخرنئ یې محمد صلی الله علیه وسلم وو چې ترده ورسته بیا ترقیامته پوری بل رسول بیا دنیا ته نه راځی دئ علیه السلام خاتم النبیین وو ټول رسولان مخلوق اوبشرو و)

**(۳) پر آسمانی کتابو ایمان** (مطلب یې دادی چې الله ځینو رسولان ته آسمانی ښونی دکتاب او صحیفو په نامه ورکړی وی موږ پر ټولو ایمان لرو خو اوس یوائی قرآن شریف په آسمانی شکل پاته دی تغیرندی پکی سوئ او قرآن آخرنئ کتاب دی ټولو لره ناسخ دی چې دقرآن څخه ماسوا په نورو کتابو عمل کول روا ندی یو خو لاسوهنه پکی سوی او بل منسوخ دی)

**(۴) پر ملائکو ایمان** (مطلب یې دادی چې فرشتی دالله دالله نورانی مخلوق دی دالله عبادت کوی خوړل څښل نکوی ځینو ته الله کارونه سپارلی دی جبریل وحی راوړل میکاییل دبارانو پر نظام مقرردی عزراییل روحان کښلو مقرردی اسرافیل دصور پر شفیلی پوکلو مقرردی)

**(۵) پر تقدیر ایمان** مطلب یې دادی چې خیر او شر دالله تعالی له خوادی

**(۶) دآخرت پرورځ ایمان** مطلب یې دادی چې ددنیا په اختتام کی الله تعالی یوه ورځه ایښی ده چې بشپړ مخلوقات راجمع کوی حساب او کتاب کوی ځینی دوزخ او ځینی جنت ته لیږی

**پوښتنه "الله تعالی فرشتی (ملائکه) دڅه لپاره موندلی دی؟**

ځواب " دعبادت لپاره

پوښتنه "دڅلورمقربوفرشتو څه نومان دی؟

ځواب " (۱)جبرئیل (۲)اسرافیل (۳) میکائیل (۴)عزرائیل

پوښتنه "دمسجد احترام په څه ډول دی ؟

ځواب " په مسجد کی انسان باید په ذکرتلاوت اونفلو مشغوله سی اویادی چوپ کښینی اوباید په زوره خبری ونکړی هرنګه شرشوراوخندا باید ونکړی اومجلس اوکاروباری خبری باید ونکړی.

پوښتنه "داسلامی دولسو میاشتو نومان څه دی ؟

ځواب " (۱)محرم الحرام(دژړاندو یاحسن حسین میاشته) (۲)صفرالمظفر(دصفر ی میاشته) (۳)ربیع الاول (لومړی خور) (۴)ربیع الثانی(دویمه خور) (۵)جمادی الاول (دریمه خور) (۶)جمادی الثانی(څلورمه خور) (۷)رجب المرجب(دخدای تعالی میاشته)(۸)شعبان المعظم(دبرات میاشته) (۹)رمضان المبارک(دروژی میاشته)(۱۰)شوال المکرم(دکوشنی اخترمیاشته)(۱۱)ذوالقعده(میانی) (۱۲) ذوالحجه(دلوئی اخترمیاشته)

# دماشوم اسلامی روزنه

# پنځمه برخه

تالیف :مفتی عبدالصمد مسرور

یادونه : ترهرڅه مخکی تیره حصه په تکرار کړئ دوی دری هفتی

## دلمانځه ژباړه

### تکبیر :

الله اکبر الله ډېر لوی دی

### ثنا

: سُبْحَنَکَ اللَّهُمَّ وَ بِحَمْدِکَ وَتَبَرَکَ اسْمُکَ ،وَ تَعَالَی جَدُّکَ وَلَا اِلَهَ غَیْرُکَ

ژباړه : اي الله! پاکي او ستاينې يوازې تالره دي او نوم دي مبارک دی،شان دې لوړ دی او له تا پرته بل معبود نشته .

### تعوذ :

اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطَنِ الرَّجِیْمِ .

ژباړه :زه خدای ته پناه وروړم چې له رټلي شیطان ځخه مې وژغوري .

### تسمیه

: بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِیْمِ

ژباړه :د الله په نامه پیل کوم چې لورونکی او مهربانه دی .

## د فاتحې سورت

: اَلْحَمْدُ اللهِ رَبِّ الْعَلَمِيْنَ (۱)الرَّحْمـنِ الرَّحِيمِ (۲)مَـلِكِ يَوْمِ الدِّينِ(۳)إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِيْنَ(۴)اهدِنَــــا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ (۵) صِرَاطَ الَّذِينَ أَنعَمتَ عَلَيهِمْ غَيرِ المَغضُوبِ عَلَيهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ(۶)

ژباړه :د ټول عالم پالونكي ته ثناده چې لورونكى او مهربانه دى،د قيامت د ورځې خاوند دى،خدايه!يواځې ستا عبادت كوو او يواځې له تاڅخه مرسته غواړو،مونږ ته نيغه(سيده) [مستقيمه]لار راوښيه،د هغو لار چې تا پرې نعمتونه لورولي دي،نه دهغو لار چې ته ورته قهرېدلى يې او نه هم د بې لارو خلكو لار.

## د اخلاص سورت

: قُلْ هُوَاللهُ اَحَدٌ(۱) اللهُ الصَّمَدُ(۲) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُلَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُ كُفُوًا اَحَدٌ.

ژباړه :اى پيغمبره دوى ته ووايه چې الله يو دى،الله بې نيازه دى،نه له ده څخه څوک پيدا سوي او نه دى له چا څخه پيدا سوى دى او نه يې څوک سيال سته.

د رکوع تسبیح :سُبَحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْم

زما ستر رب ته پاکي ده.

د قومې (له رکوع څخه د ولاړېدو) تسمیع : سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه

الله د ثنا ویونکو ستاینه واورېده

د قومې(له رکوع څخه د ولاړېدو) تحمید

: رَبَّنَا لَکَ الْحَمْد! ټولې ستاینې ستا لپاره دي

د سجدی تسبیح: سُبَحَانَ رَبِّيَ الاَعْلَی

زما د رب شان ډېر لوی دی

تشهد : اَلتَّحِيَّاتُ للهِ وَصَّلَوتُ وَالطَّيِبَاتُ اَلسَّلَا مُ عَلَيْکَ اَيُّهَا النَّبِیُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَتُهُ اَلسَّلَا مُ عَلَيْنَا وَعَلَی عِبَا دِاللهِ الصَّالِحِيْنَ اَشْهَدُ اَنْ لَّااِلَهَ اَلَّااللهُ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدً ا عَبْدَهُ وَ رَسُوْ لُهُ.

ژباړه :ثنا ،ستاینې او پاکي الله لره دي،ای نبي !پرتا دې سلام،د الله رحمت او برکتونه وي،پرمونږ او دالله پر نیکو بندګانو دې سلام وي،شاهدي

ورکوم چې بې له الله پرته بل معبود نسته او شاهدي ورکوم چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده او رسول دی.

درود: اَللَّهُمَ صَلِّ عَلَی مُحَمَّدٍ وَ عَلَی اَلِ مُحَمَّدٍ کَمَا صَلَّیْتَ عَلَی اِبْرَاَهِیْمَ وَ عَلَی اَلِ اِبْرَاَهِیْمَ اِنَّکَ حَمِیْد مَّجِیْدٌ اَللَّهُمَ بارِکْ عَلَی مُحَمَّدٍ وَ عَلَی اَلِ مُحَمَّدٍ کَمَا بَارَکْتَ عَلَی اِبْرَاَهِیْمَ وَ عَلَی اَلِ اِبْرَاَهِیْمَ اِنَّکَ حَمِیْد مَّجِیْدٌ.

ژباړه :یاالله!پر محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه پرکورنۍ رحمت ووروه،لکه پر ابراهیم علیه السلام اودهغه پرکورنۍ دې چې لورولي ؤ ،بېشکه ته ستایلی او لوی یې .یا الله !پر محمد او دهغه پر کورنۍ برکتونه ووروه،لکه پر ابراهیم علیه السلام او دهغه پرکورنۍ دې چې ورولي وو ،بېشکه ته ستایلی او لوی یې.

دُعا: اَللَّهُمَ رَبَّنَا آتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّ فِی الْاَ خِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَبَ النَّارْ.

ژباړه:ای الله !په دنیا کې نعمت او په آخرت کې جنت راکړه او دوزخ له اوره مو وساته.

سلام :السَّلَا مُ عَلَيْكُمْ وَ رَحْمَةُ اللهِ.پرتاسو دي سلام او د الله رحمت وي.

د وترو په دریم رکعت کی له رکوع څخه مخکې د قنوت دعا ویل کیږي

دعا قنوت : اَللَّهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُکَ وَنَسْتَغْفِرُکَ وَ نُؤْ مِنُ بِکَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْکَ وَنُثْنِیْ عَلَيکَ الْخَيْرَ وّ نَشْكُرُکَ وَلاَنَكْفُرُکَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُکُ مَنْ يَّفْجُرُکَ اَللّهُمَّ اِيَّاکَ نَعْبُدُ وَلَکَ نُصَلِّیْ وَ نَسْجُدُ وَاِلَيْکَ نَسْعَی وَنَحْفِدُ وَنَرْجُوْاُ رَحْمَتَکَ وَنَخْشَی عَذَابَکَ اِنَّ عَذَا بَکَ ک بّالْکُفَارِ مُلْحِقْ.

ژباړه : یا الله! مونږ له تا څخه مرسته او بخښنه غواړو او پرتا ایمان لرو ،پرتا توکل کوو ،ستا غوره ستاینه کوو ،ستا شکر ادا کوو ،ناشکري دې نه کوو ،له هغه چا سره پرېکون او داړیکو شلون کوو چې له تا سره پریکون کوي،یا الله!یوا ځې ستا عبادت او ستا لمانځنه کوو ،تاته مو سجده ده،ستا پر لورپنا دروړو ،درځغلو ،یوا ځې ستا دلورینو هیله منیو او ستا له عذابه وېرېږو ،بې شکه چې ستا عذاب کافرانو ته رسېدونکی دی .ای الله له تا څخه کومک غواړم، اوله تا څخه ببښنه غواړم

## د استخارې د لمونځ اسانه طریقه :

که څوک د یو کار اراده وکړی او هغه ورته مطمئن نه وي یعني د تردید په حال کې وی او نه پوهیږي چي په دغه کار کې به یې خیر وي او که شر نو هغه ته پکار دی چي د الله جل جلاله څخه مشوره او سلا وغواړی چه هغه د استخاری او سلا لمونځ دی ، او لاندي په ترتیب بیان سوی دی،

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي

که یو چا یو کار یا معامله (لکه واده کول یا لور ورکول یا غټه سودا کول یا دکان اخیستل یا بل داسي لو معامله وي ) نو هغه دي دوه رکعات نفل وکړي د استخاري په نیت او وروسته دي دغه دعا ورپسي ووایي

اللَّهُمَّ إنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ , وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ , وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلا أَقْدِرُ , وَتَعْلَمُ وَلا أَعْلَمُ , وَأَنْتَ عَلامُ الْغُيُوبِ , اللَّهُمَّ إنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ (دلته به هغه خپل مطلب یاد کړي ) خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي أَوْ عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ , فَاقْدُرْهُ لِي وَيَسِّرْهُ لِي ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ , اللَّهُمَّ وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ (دلته به خپل مطلب یاد کړي په ذهن کی) شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي أَوْ عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ , فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ وَاقْدُرْ لِي الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ ارْضِنِي بِهِ (دلته به بیا خپل مطلب یاد کړي)

## د استخارې د لمونځ کولو وخت

کله چې د خوب وخت راسي نو به ولاړسې او په ښه طریقه به اودس تازه کړې ، بیا به دوه رکعاته نفل د استخارې په نیت وکړې ، د سلام څخه وروسته به ذکرسوې دعا ووایې ، او ورسته به په راسته اړخ بیده سې ،، که دې خوشحالي خوب ولیدی نو هغه کار ستاسو لپاره خیر دي ، او که مو بیخونده خوب ولیدي نو هغه کار دي د خیر نه دي او ډډه به ورڅخه وکړې

مسئله : د استخارې له لمانځه نه وروسته یې چې په زړه کې کوم لوری ښه ښکاره کېدلو نو هماغه لوری دې غوره کړي ، که په اول وارې د ده زړه خلاص نشو نو تر ۷ اوو وارو پورې دې وکړي

مسئله : امام نووي فرمایي چې : مستحب دادی چې : په اول رکعت کې قل یا أیها الکافرون او په دوهم کې قل هو الله أحد ، اووایي . (تحفة الأحوذي)

## څلويښت حديثونه

حضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى دى:

مَنْ حَفِظَ عَلى اُمّتِيْ اَرْبَعِيْنَ حَدِيْثاً فِىْ اَمْرِ دِيْنِهاَ بَعَثَهُ اللهُ فَقِيْهاً وَ كُنْتُ لّهُ يَوْمَ الْقِياَمَةِ شَاهِداً وَ شَهِيْداً ( ترمذى)

ترجمه: هر څوک چي زما د امت د ديني فايدې د پاره څلوېښت حديثونه جمع کړي الله تبارک وتعالى به هغه سړى د قيامت په ورځ فقيه راپورته کړي د قيامت به ورځ زه غواړم چي دده شفاعت وکړم او غواړم چي د هغه ګواه او شاهد سم

دغه ډول نبي کريم صلى الله عليه وسلم ارشاد فرمايلې دى چي هر څوک زما د امت د فايدې (ګټې رسولو) د پاره څلويښت حديثونه چي د دينى امورو (کارو) سره تعلق لري سړي ته ورياد کړي يا يې غوږ ته د يو مسلمان ورورسوي الله تبارک وتعالى به د قيامت په ورځ د علماؤ او شهيدانو په جماعت او ټولۍ کي را پورته کړي او اجازت به ورکړي د هري دروازې څخه چي ته غواړې و جنت ته داخل سه

الله اکبر !

ځوني لويه نېکبختي او لوی زېری دی! مسلمانانو ته پکار ده چې دا

حدیثونه پخپله هم یاد کړي او خپلو متعلقینو او کورنۍ ته يې هم وریاد کړي دا حدیثونه ډیر لنډ دي نو یادول ددې حدیثو ډېر آسانه دي مشکل کار نه دی

(۱)(إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ (بخاری و مسلم )

دعملو قبليدل د نيت سره تعلق لري

اَلدِّيْنُ اَلنَّصِيْحَةُ. (مسلم)

دین د خير غوښتنې نوم دی

اَمْلِكْ لِسَانَكَ. (ترمذی)

خپله ژبه وساته

مَنْ صَمَتَ نَجَا. (ترمذی )

څوک چې چوپه خوله سو هغه خلاص سو

اِذَا غَضِبَ اَحَدُكُمْ فَلْيَسْكُتْ. (طبرانی )

ستاسي څخه چي هر څوک غضبناکه سي باید چي پټه خوله سي

مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنَّا (مسلم )

هر چا چي فریب وکړی هغه زموږ څخه نه دی

اَلْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الاْيْمَانِ (بخاری و مسلم )

حیا د ایمان یوه شعبه ده

اَلْغَيْبَةُ اَشَدُّ مِنَ الزِّناَ (مشکوة )

غیبت کول تر زنا هم بد تر دی

زِنَا الْعَيْنِ النَّظَرُ (مشکوة )

د ستر ګو زنا ناروا کتل دي

لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةُ مَنْ لاَّيَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ (مسلم)

هغه سړی به جنت ته داخل نسي چي د ده همسایه ګان د ده د زهیریدو څخه محفوظ نه وي

عَذَابُ الْقَبْرِ حَقٌّ (بخاری )

د قبر عذاب حق دی

كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ (ابوداود )

هر شی چي نشه راولي حرام دی

مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ اَلصَّلاَةِ وَ مِفْتَاحُ الصَّلاَةِ اَلْوُضُوْءُ (ترمذی )

د جنت کیلي لمونځ دی او د لمانځه کیلي اودس دی

اَلسِّوَاكُ مُطَهِّرَةٌ لِلْفَمِّ وَ مَرْضَاةٌ لِّلرَّبِّ (نسائي )

مسواک وهل د خولي د پاکی سبب دی او د الله جل جلاله د رضاء سبب ګرځي

أَفْضَلُ الأَعْمَالِ الْحُبُّ فِى اللّٰهِ وَالْبُغْضُ فِى اللّٰه (ابوداود )

ښه د عملو څخه دا دی چي دوستي هم د الله د پاره وي او دښمني هم د الله د پاره وي

أَحَبُّ الْبِلاَدِ إِلَى اللّٰهِ مَسَاجِدُهَا وَأَبْغَضُ الْبِلاَدِ إِلَى اللّٰهِ أَسْوَاقُهَا (مسلم)

ډیر خوښ د ښارو ځخه د الله جل جلاله په نزد مسجد ونه دي او ناخوښه د ښارو ځخه د الله جل جلاله په نزد بازارونه دی

مَنْ بَنَى مَسْجِدًا لِلَّهِ تَعَالَى بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتًا فِى الْجَنَّةِ (بخاری و مسلم)

هر چا چي د الله جل جلاله د رضاء د پاره مسجد جوړ کړی الله جل جلاله به دده د پاره په جنت کي ځای جوړ کړي

إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْجُمُعَةِ فَلْيَغْتَسِلْ (بخاری و مسلم )

څه وخت چي یو ستاسي ځخه جمعه پیدا کړي باید غسل وکړي (یعني د جمعې په ورځ غسل وکړي)

اَلصَّلَوَاتُ الْخَمْسِ يَمْحُو اللَّهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا (مسلم )

د پنځو لمونځو په کولو سره الله جل جلاله ګناهونه بخښي

صَلُّوْا الصَّلاَةَ لِوَقْتِهَا (مسلم )

لمونځ پر خپل تاکلي وخت باندي آدا کړی

إِذَا سَجَدْتَّ فَضَعْ كَفَّيْكَ وَارْفَعْ مِرْفَقَيْكَ (مسلم )

**څه وخت چي تا سي سجده کوی خپل ورغوی (لاسونه) پر مځکه کښېږدئ او خپل بازوګان د مځکي څخه پور ته کړئ**

الَّذِى تَفُوتُهُ صَلاَةُ الْعَصْرِ كَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلَهُ وَمَالَهُ (بخارى و مسلم)

**د هر چا څخه چي د مازیګر لمونځ قضا سو نو لکه مال او اولاد چي يي برباد سو**

مَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنَ الإِزَارِ فَفِي النَّارِ (بخارى و مسلم)

**هر چا لنګ یا پایڅې چي تر بجلکو کښته وي هغه حصه د بدن به يې دوږخ ته ولاړه سي**

لاَ تَدْخُلُ الْمَلاَئِكَةُ بَيْتًا فِيهِ كَلْبٌ وَلاَ صُورَةٌ (بخارى و مسلم)

**ملائکي هغه کور او خوني ته نه داخليږي چي په هغه کي سپی یا عکسونه وي**

إِيَّاكُمْ وَالْحَسَدَ فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كامَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ (ابوداود)

د حسد او بغض ځخه تيښته وکړئ ځکه چي حسد او بغض نيکي داسي خوري لکه اور چي بوټي خوري

لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ خِبٌ وَلاَ بَخِيْلٌ وَلاَ مَنَّانٌ (ترمذى )

فريب كاره ، بخيل ، او هغه ځوک چی د خپل احسان منت پر بل چا اچوي جنت ته به داخل نه سي

سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوْقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ (بخارى و مسلم )

مسلمان لره نالائقه وينا لويه ګناه او په ناحقه وژل د کفر سره برابر ده

الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ (بخارى )

كامل مسلمان هغه ځوک دی چي د هغه د ژبي او لاس ځخه مسلمانان په امن کي وي

لاَ إِيْمَانَ لِمَنْ لاَ أَمَانَةَ لَهُ وَلاَ دِيْنَ لِمَنْ لاَ عَهْدَ لَهُ (بيهقى )

ايمان نسته هغه چا لره چي امانتداره نه وي او كامل ديندار نه وي هغه ځوک چي پر خپله وعده وفا نه کوي. ( د ايمان ځخه مراد کامل ايمان دی)

آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلاَثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ. (بخارى و مسلم)

د منافق درې علامې دي څه وخت چې خبرې کوي دروا غ وايي او څه وخت چې وعده وکړي وفا يې نه کوي (وعده خلافي کوي) او په امانت کې خيانت کوي

خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ (بخارى و مسلم )

ستاسې څخه ښه سړی هغه څوک دی چې قرآن شريف زده کړي او نورو ته يې هم ور زده کړي

ارْحَمُوا أَهْلَ الأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِى السَّمَاءِ (ترمذى ابوداود)

تاسې رحم کوئ پر هغه چا چې په مځکه کې دي پر تاسې به رحم وکړي هغه (الله) چې په اسمان کې دی

لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ (مسلم )

خپلو مړو لره (هغه کسانو ته چې مرګ ورته حاضر سي) تلقين ورکوئ په کلمه سره د لااله الا الله محمد رسول الله

لاَ تَسُبُّوا الأَمْوَاتَ فَإِنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوا (بخارى )

خپلو مړو ته ښکنځل بد ويل مه کوئ ځکه چي دوی رسيدلی دي هغه ته چي مخکي يې استولي وه (د خپل عمل جزا ته رسيدلي دي)

لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَلَدِهِ وَوَالِدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ (بخارى و مسلم)

ستاسي څخه هيڅ سړی کامل مؤمن نسي کيدای تر څو چي ده لره زما محبت تر خپل مور، پلار، اولاد او تر ټولو خلکو ډير نسي

اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ (بخارى )

انسان به د قيامت په ورځ د هغه چا سره ملګری وي چي په دنيا کي يې د هغه سره محبت درلود

كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ، أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ (بخارى )

په دنيا کی د مسافر او د لاري تيريدونکي په شان ګذاره کوه

اَلجَنّةْ تَحْتَ اقْدَامِ الْاُمَّهاَتِ (مسلم)

جنت د ميندو تر قدمو لاندي دی

يُسَلِّمُ الصَّغِيرُ عَلَى الْكَبِيرِ وَالْمَارُّ عَلَى الْقَاعِدِ وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ (بخاری)

سلام دي وايي کشر و مشر ته او تلونکی (روان) و ناست ته او لږ کسان و ډيرو ته

إِنَّ اللَّهَ لاَ يَنْظُرُ إِلَى أَجْسَادِكُمْ وَلاَ إِلَى صُوَرِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ (مسلم)

ترجمه: الله تبارک و تعالی ستاسي صورتو او مالو ته نه ګوري بلکي الله تعالی ستاسي زړو او عملو ته ګوري

# دماشوم اسلامی روزنه

# شپږمه برخه

تالیف :مفتی عبدالصمدمسرور

یادونه : ترهرڅه مخکی تیره حصه په تکرارکړئ دوی دری هفتی

## د توبې لمونځ

کله چې د يو سړي څخه يوه ګناه وسی نو ده لره ښايي چې دستي اودس تازه کړي دوه رکعاته صلاة توبه (دتوبې لمونځ) د نفلو په نيت سره وکړي د دې څخه وروسته دې په ښه اخلاص سره توبه وکاږي او اِستغفار دې ووايي او پر خپله سوی ګناه دې ښه پښېمانه سي او دا وعده دې وکړي چې ای الله زه بيا ودغه ګناه ته نژدې هم نه ورځم او اِستغفار دې دري يا پنځه واره ووايي

بيا دې دوه رکعات نفل وکړي نيت يې داسې دی نيت کوم دوه رکعاته نفل دتوبې مخ پر طرف د کعبې الله اکبر

## د کسوف (دلمرترنځې نيولو) لمونځ

(کله چه لمر تورسی )تندری ونيسی امام دی دخلګو سره په جما عت دوه رکعته نفل (په عام ډول)لمونځ وکړي په هر رکعت کښې دې په خفيه سره اوږدقرائت وايي (مفتی به قول دادی) اويوه رکوع دی کوی، امام ابو يوسف رح او امام محمدرح وايي چې قرائت دی په لوړ آواز وايي بيا دی په ګډون دټولو خلګو دعا وکړي ترڅو چه لمر له تندري څخه خلاصيږي امامت دی دجمعې دورځې امام وکړي، که امام حاضرنه وو نو هريو دی ځان ته لمونځ وکړي،

## دخسوف(سپوږمۍ ترنځه ونیسی)لمونځ

که سپوږمۍ توره سی (خسوف) دپاره دجماعت لمونځ نسته هرڅوک دی ځانته لمونځ وکړی همدارنګه دخسوف په لمانځه کښی خطبه او اجتماع نسته

## داستسقاء لمونځ

امام اعظم ابوحنیفه )رح( وایی چه دباران غوښتلو دلمانځه دپاره سنت لمونځ په جماعت سره نسته که هرڅوک ځانته لمونځ کوی روادی، امام ابویوسف )رح او امام محمد )رح وایی (فتوی ددوی پرقول ده)چی په جماعت سره دی دوه رکعته نفل لمونځ وکړی امام دی قرائت په دواړو رکعتو کښی په لوړآواز ووایی وروسته له لمانځه دی پرځمکه خطبه ووایی یعنی خطبه دی پرمنبرنه وایی چه خلګ له ګنهونه توبه وباسی، بیا دی مخ پرقبله ودریږی دعا اوزاری دی وکړی امام دی خپل ځادر(پټو) واړوی او مقتدیان دی ځادرونه(پټوګان) نه اړوی، اړول دځادر د نیک پالۍ دپاره کیږی که ځادر څلورکنجه وو نولوړدی کښته او کښته دی لوړ کړی او که ځادر ګردئ وو راسته پلودی چپ اوږی ته او چپ پلودی راسته اوږی ته واړوی داستسقاء دپاره دی دکفارو اهل ذمه نه حاضیریږی

## دتراويح(د روژی د میاشتی قیام)لمونځ

د روژی په میاشت کښی د ماخستن وروسته د خلګو راغونډیدل سنت دی امام دی پد غه خلګو سره پنځهترویح لمونځ اداکړی ترویح څلور رکعته دی او هره ترویح دی په دوه سلامه اداکړی او په مابین کښی ددوو ترویحو دی

په قدر دیوی ترویح ناسته وکړی بیا دی امام د خلګو په ګډون وترلمونځ اداکړی، بیله د روژی د میا شتی بل وخت دی وترلمونځ په جماعت نه کوی

## دحاجت لمونځ

که سړی له داسې کار سره مخ سي چه د منډو ترړو او د اسباب کارولو باوجود نه پوره کیږی یا یې پوره کول سخت وي نو په ښه شان به اودس وکړي دوه رکعاته لمونځ د قضای حاجت په نیت سره وکړی ورسته به دخدای جل جلاله حمد او ثنا او درود شریف ووائي او دا دعا دې ووائي

لا إِلَهَ إِلاَّ الله الحَلِيمُ الكَرِيمُ، سُبحَانَ رَبِّ العَرشِ العَظيمِ الحَمْدُ للهِ رَبِّ العَالمِينِ، أَسأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحمَتِكَ وَعَزَائمَ مَغفِرَتِكَ وَالغَنيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ، وَالسَّلامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ، لا تَدَعْ لي ذَنباً إِلاَّ غَفَرْتَهْ وَلا هَمّاً إِلاَّ فَرَّجْتَهْ، وَلا حَاجةً هِيَ لَكَ رِضاً إِلاَّ قَضَيتَهَا يَا أَرحَمَ الرَّاحمينَ

# د اشراق لمونځ

په يوه حديث کې راځی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی ؛ چې کوم سړی د سهار لمونځ په جماعت سره ادا کړی او بيا تر لمر راختو پوری هلته کښينی او د الله تعالی ذکر يی کوی بيا يی دوه رکعته اشراق وکړی نو ده ته د يوه حج او عمری په اندازه ثواب ورکول کيږی د پوره حج او عمرې ، د پوره حج او عمرې ، د پوره حج او عمری

داشراق لمونځ عام دوه رکعته نفل دی نيت يی داسی دی نيت کوم دوه رکعته نفل داشراق مخ پر طرف د کعبی شريفی الله اکبر

داشراق وخت چی لمر يوه نيزه راپورته سی شروع کيږی چی

اوس دلمونځونو دوخت لپاره دائمی نقشی يا نوی سافتويرونه د مبائل، کمپيوټر او داسي نورو لپاره پيدا سوي دي ،چي دهری سيمي وختونه صحيح ښيي او تجربه سوي دي،چي تقريبا تدقيق دي دغه سافتويراويا دائمی نقشی ،چي دلمر ختو کوم وخت وښودی پنځلس دقيقې وروسته داشراق وخت دی

## دڅاښت لمونځ

ددې لمانځه فضیلت هم په حدیث شریف کې ډیر راغلی دی، دا لمونځ د غریبۍ او مفلسۍ د لیري کولو لپاره تجربه سوې نسخه ده ددې لمانځه رکعتونه د دوو څخه بیا تر دوولسو پوري کولای سی

په حدیث شریف کې راغلي دي

که هر چا د څاښت د دوه رکعاتیزه لمانځه پابندي وکړه نو د هغه ټوله کوچني ګناهونه به ورو بخښل سي که څه هم هغه ګناهونه د دریاب د ځګو سره برابر وي

ددې لمانځه وخت د لمر د ښه تېزیدو څخه وروسته د شرعي نیمي ورځي(زوال) تر شروع کېدو پوري دي

دڅاښت لمونځ عام دنفل لمونځ دی نیت یې داسی دی نیت کوم دوه رکعته نفل دڅاښت مخ پر طرف دکعبی شریفی الله اکبر

## داوابین لمونځ

دا نفل د ماښام د فرضو او سنتو څخه وروسته کیږي په حدیث شریف کی راغلی دی چی کوم سړی دا نفلونه دا رنګه وکړی چی د دوی په منځ کی هیڅ بده خبره ونه کړی نو هغه ته د دولسو کالو د نفلو برابر ثواب ورکول کیږی، د دی لمانځه کمه اندازه شپږ رکعاته او زیاته اندازه یی شل رکعته ده

## تهجد لمونځ

د فرضی لمانځه وروسته تر ټولو غوره لمونځ د شپی د (تهجد) لمونځ دی

په حدیث شریف کی راغلی دی چی د شپی په آخیری کی دوه رکعته لمونځ د ټولی دنیا څخه بهتره دی که چیری ماته د امت د مشقت او تکلیف ویره نه وای نو ما به په خپل امت فرض کړی وای،

د شپی په وروستۍ برخه کی الله جل جلاله د ځمکی اسمان ته نزول فرمایی او وایی شته څوک ماته فریاد او آواز کونکی چی ماته آواز وکړی او زه یی فریاد واورم، له ماڅخه څه وغواړی او زه یی ورکړم له ماڅخه د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړی او زه ورته بخښنه وکړم،

د دی لمانځه په وسیله سره خلګو ډیری لوړی مرتبی پیدا کړی دی ، دا لمونځ د نیمی شپی د تیرید لو څخه وروسته کیږی دا لمونځ د دوه رکعاته څخه تر دوولسو رکعاتو پوری کیږی

نیت یی داسی دی نیت کوم دوه رکعته دتهجد مخ پر طرف د کعبی الله اکبر

خو رسول الله صلی الله علیه وسلم د اتو رکعاتو څخه زیات ندی ادا کړی

دتهجد لمونځ په ټولو نفلي لمونځو کي ثواب زیات لري او طریقه يې داسي ده:

کله ، چي مسلمان ورور دماخوستن تر لمانځه وروسته بیده سي او دڅه وخت خوب کولو وروسته بېرته راویښ سي همدغه وخت دتهجد دلمانځه دئ په دغه وخت کي دوه، یاڅلور ، یا اته او یا دوولس رکعته نفل وکړي وروسته که وخت وي بېرته بیده سي په دې شرط ، چي دسهار لمونځ ځني قضا نه سي او که وخت نه وي نو بېرته په عبادت اخته سي څو سهار سي او دسهار لمونځ په جماعت ادا کړي ،:

## د صلاة تسبيح فضيلت او طريقه

ددې لمانځه هم لوی فضيلت دی ددې لمانځه د کولو څخه د انسان د مخه او وروسته نوی او زاړه، لوی او کوچني، ښکاره او پټ، په قصدي ډول په غير قصدي ډول پيښ سوي ګناهونه الله تعالى ورمعافه وي، دا لمونځ د الله پيغمبر صلى الله عليه وسلم و خپل اکا حضرت عباس رضي الله عنه ته وربښوولی وو او ورته فرمايلي يې وه چي که يې کولای سې نو دا لمونځ هره ورځ کوه که هره ورځ نه وي نو هر جمعه، که هره جمعه يې نه سي کولای، نو په کال کښي يې يو واري کوه په کال کښي يې يو واري ضروري او خامخا کوه

د تکليف او غم او د مصيبت او سختي په وخت کښي دا لمونځ ډير زيات فائده مند دی ابو عثمان زاهدي رحمه الله فرمايي چي ما په داسي وخت کي تر صلوة تسبيح کولو ښه عمل بل هيڅ شی نه دي ليدلی د اکثره امامانو او د دين د بزرګانو دا لمونځ معمول وو او په دغه يې عمل کړي دی، الله تعالى دي ماته او هر مسلمان ته پر دغه باندي د عمل کولو توفيق راکړي امين

ددې لمانځه څلور رکعتونه دي په هر رکعت کي کښې د غه لاندي ليکل سوي کلمې په دې ترتيب سره ويل کيږي

سبحان الله و الحمد لله و لا اله الا الله و الله اکبر

چي نيت وتړې تر ثنا يعني سبحنک اللهم وروسته دي دا کلمې پنځلس واره وايې

تر اعوذ بالله ، بسم الله ، الحمد لله او سورت ويلو وروسته دي لس واره وايې ،

په رکوع کي تر سبحان ربي العظيم وروسته دي لس واره دي وايې ،

چي د رکوع څخه ولاړ سي په قومه کي دي لس واره وايي

او په اوله سجده کي د سبحان ربي الاعلی څخه وروسته دي لس واره ووايي

چي د اولي سجدې څخه راپورته سي او کښيني نو لس واره دي يې وايي،

بيا هم دوهمه سجده کي تر سبحان ربي الاعلی وروسته دي يې لس واره ووايي

په دغه ترتیب دا تسبیح په یوه رکعت کي پنځه اویا (۷۵) واره کیږي

ددې څخه وروسته دې د دوهم رکعت لپاره ولاړ سي او د سورت فاتحه څخه مخکي دې دا کلمې پنځلس واره ووایي ،

همدا رنګه په پاته رکعتونو کي دې په پورته بیان سوې طریقه سره عمل کوي ،په څلورو رکعتو کي دغه کلمې درې سوه واره ویل کیږي

دا طریقه امام ترمذي رحمه الله د عبدالله ابن مبارک رحمه الله څخه روایت کړې ده

دا لمونځ د مکروه وختو څخه ماسیوا هر وخت کولای سی

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي په اول رکعت کي دي تر سورت فاتحه وروسته

الهکم التکاثر

په دوهم رکعت کښي والعصر

په دریم رکعت کښي قل یا ایها الکفرون

په څلورم رکعت کي قل هو الله احد وایي

او په دوهم روايت کي اذا زلزلت الارض په اول رکعت

والعديت په دوهم رکعت کي

اذا جاء په دريم رکعت کي

او په ثلورم رکعت کي قل هو الله احد ويل هم راغلي دي

ليکن دا سورتونه ويل ضروري نه دي چا ته چي کوم سورتونه ياد وي هغه هم ويلاى سي

تمت بعون الله عزوجل